# څلورمه لار

ایمل پسرلی



PROPERTY OF
ACKU
3976

# څلورمه لار

د

ایمل پسرلي

د لنډو کیسو لومړۍ مجموعه

خپروونکی
د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه
۱۳۷۲ هـ . ش.

Download from: aghalibrary.com

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم :  څلورمه لار

لیکوال :  اجمل پسرلی

خپرندوی :  د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه

د خپرونو نومره :  ۳

د خپرېدو نېټه :  ثور ۱۳۷۲ ش ( اپریل ۱۹۹۳ ع )

چاپ ځای :  شرکت پریس - لاهور

تیراژ :  ۵۰۰ ټوکه

کمپوزر :  امان الله ساهو

بیه :  ۱۵ روپۍ

# فهرست

- د سریزې پرځای
- اشاره
- د څلورو ټیټو دیوالو په منځ کې
- کلاشینکوف
- اولاد
- چاچا رفو
- تش دهلیز
- لنډې لیمې
- څلورمه لار
- لنډه غوټه
- زرغونې ترخې
- تورلې سترګې پته خوله
- زنده باد
- پور
- زړه نازړه
- د سبا په تمه

د اردو مشهوره کیسه لیکونکې خالده حسین د کیسه لیکنې په برخه کښې وايي : « شاید د فنا ویره ، د بقا حسرت اود ژوند سره مینه ما په لیکنه مجبوروي »

همدغه ویره او غوښتنه ما هم کیسه لیکنې ته هڅوي ، کیداې شي چې زه به په لیکنې کښې ډیرې نیمګړ تیاوې لرم خو ذکر شوې ویره او غوښتنه تل ما په دې مجبوروي چې د هغو چاپیریالونو څیرې انځور کړم چې زه پکښې زیږیدلی او لوی شوی یم .

ایمل پسرلی

بسم الله الرحمن الرحیم

# د سریزې پرځای

«ځلورمه لار» د ناهید کتاب خپرولو مؤسسې دریم کتاب دی چې دا دی د افغانستان د ادبیاتو د مینه والو مخې ته یې په درنښت سره ږدو . دغه اثر د ځوان لیکوال ایمل پسرلي د لنډو کیسو لومړنۍ چاپي مجموعه ده .

ایمل پسرلی هغه ځوان کیسه لیکونکی دی چې د لیکوالۍ له همدغې پیلامې څخه یې د قلم د ځوانو ولولو ښینګار او ښایست سره یوځای کړی او بې له شکه چې د راتلونکي لپاره زمونږ د پښتو کیسه-لیکنې ډېر نوي امیدونه ورسره تړلي دي . په «ځلورمه لار» کښې د هغه پنځلس لنډې کیسې تاسو لوستلی شئ . دغه کیسې یو څه یې د افغانستان د سپیڅلي مقاومت په اړه موضوعات لري ، یوڅه یې د مهاجرینو د ژوند د ځینو اړخونو هینداره وګڼئ او په ځینو کیسو کښې لیکوال د پیښور د ښار د بېلا بېلو اړخونو داستاني تصویرګري کړې ده . پیښور هغه ځای دی چې ګران ایمل پسرلی په کښې ډېر کلونه تیر کړي او همدلته له کوچنیتوب څخه زلمیتوب ته رسیدلی دی او دلته داسې

حالاتو ته متوجه شوی چې ښايي ډېر لږ خپل دايمي استوګن به يې ورته متوجه وي .

د ناهيد کتاب خپرولو مؤسسه وياړي چې د ښاغلي ليکوال اسد الله- غضنفر لهٔ « ساړهٔ بادونه » او د دردېدلې شاعرې پروين ملال لهٔ « تبجنه- سپوږمۍ » څخه وروسته د « څلورمه لار » د کيسو د مجموعې د خپرولو امکان پيدا کوي . د ناهيد کتاب خپرولو مؤسسه کوم ځانګړي مالي امکانات نهٔ لري او يوازې د همدغو آثارو د خرڅلاو لهٔ لیارې د نورو آثارو د چاپ امکان پيدا کولای شي . موږ د دغې مجموعې د چاپ پهٔ برخه کښې د افغانستان د نوميالیو شاعرانو او ليکوالو ښاغلو سعدالدين شپون او ډاکټر محمداکبر اکبر د مالي مرستې ممنون يو ، کهٔ د دوی د اخلاص مرسته نه وای ، ښايي موږ تر ډېره د دې مجموعې د چاپ امکانات نه وای پيدا کړي .

پهٔ داسې حالاتو کښې چې د افغانستان د فرهنګ او ادبياتو د بيلا- بيلو مؤسسو او ټولنو د خدمت ډېرې مړې شوې او يا تتې شوې دي ، د هيواد د فرهنګ او ادبياتو د مينه والو انفرادي او جمعي هڅې د دغو تتو ډيوو د بلو ساتلو لپاره زيات ارزښت لرلای شي . اميد دی هرڅوک د خپل توان تر اندازې دغه ډيوې بلې وساتي او هغه د شاعر خبره :

تيل به ي وچيږي خپلې وينې پهٔ کښې زر واچوئ
هسې نهٔ مړه شي د جونګړو مو ډيوه ملګرو

پهٔ مينه

د ناهيد کتاب خپرولو مؤسسه

# اشاره

... شاید په همدې ساعت راغلی وي ، نه ... نه ... حتماً مخته راغلی ، گوره ! که اوس راغلی وای نوخندل به یې ولې ؟ وروسته له پوهیدو یې خندلي ، که چرته نه وای پوه نو نه به یې خندل که نه ... هسې به خاندي ، هو - نه - ولې به هسې خاندي ؟ لیونی خو نه دی ، ضرور پوه شوی ، ما څومره کم عقلي وکړه . ما باید داسې نه وای کړي، دده به له زړه ، یو خدای خبر وي ، هسې به په خوله را ته خاندي ، غصه به وي ، که گوره نو .... نه شاید غصه نه وی ، د موټر خاوندان په معمولي پیسو نه خفه کیږي ، دوی به نو پیسې هم لري - هو - هو ضرور - خو نه - د چا زړه ، غواړي چې هسې دې پیسې لاړې شي .
-ضرور - خو نه - د چا زړه ، غواړي چې هسې دې پیسې لاړې شي .

د هغه په لیدو وار له واره دا ټولې خبرې زما ذهن ته راغلې . زه ډیر پریشانه او پښیمانه وم . واقعاً ما ډیر بد کار کړی و . ما باید داسې

نه وای کړي .

زما زړهٔ دا منل چې دهٔ لیدلی یم او پهٔ همدې وجه مې ورته ورو ورو خندل او هڅه مې کوله چې دهٔ ته معامله ډیره ساده وښیم .

هغه اوس لهٔ ړومبنۍ خندا وروسته لږ چُپ شوی و خو چې کله یې زما سور مخ او درواغجنه موسکا صحیح کړه نو بیا پهٔ خندا شو ، دده دې خندا زهٔ نور هم پهٔ دې متیقن کړم چې دهٔ لیدلی یم او حتماً دی هغه وخت زما شاته ولاړوخو څهٔ یې نه ویل ، شاید زهٔ به یې خپلو ورانیو ته پرٔایښی وم ، شاید صبر به یې کاوه چې خپله سم شم ، شاید ... خو آف خدایه ! زهٔ ولې نهٔ پوهیدم ؟

ما څومره لویه ګناه وکړه ؟ څومره وشرمیدم - او واقعاً دی څومره شریف انسان دی ، هیڅ هم نهٔ وایي ، کهٔ دده پر ځای زما ورور واۍ او یا هم بابا وای نو څرمن به یې را ایستلې وه .

اوه ! دی خو نور هم پهٔ تیزه خاندي ، پهٔ کټ کټ خندا ... او دا څه وایي :

- ای شوخه ! بیا دې څهٔ شوخي کړې ده ؟

دا څهٔ وایي ؟ سړی نه دی پوه ، هو بلکل نه دی پوه شوی ، راځه وتښته همدغه وخت دی نه پوهیږي ، او کهٔ بیا وروسته پوهیزي نو زما یې څهٔ ، قسم به وکړم ، راځه - راځه وتښته - نه ... نه ...یو دوه خبرې وکړه ، د خبرو ځواب یې ورکړه :

- هیڅ ... هیڅ هم نهٔ ... هسې ... هیڅ ... هـ ... سـ ...ی ... .

دهٔ بیا وخندل ، پهٔ زوره یې وخندل ، زما ژبه بنده شوه او بیا مې شك پهٔ یقین بدل شوچې سړی پوه دی ، او اخر ولې به نهٔ پوهیزي ،

ماشوم خونهٔ دی لوی سړی دی ، موږ چلوی او دا زما دروغ خو . . . .

ده ، خندا بس کړه لږیې راته څیر څیر وکتل او بیا یې وخندل ، سترګې یې تر پخوا ډیرې خلاصې شوې او ویې ویل :

– ښه . . . ښه . . . نه . . . زهٔ پوه شوم . . .

زما خولهٔ بې اختیاره خلاصه شوه :

– ته پوه شوې ؟

خو بیا مې ژبه بنده شوه ، پهٔ ذهن کښې مې ګڼ سوالونه را پیدا شول او یو سوال چې تر ټولو مهم و او زهٔ یې ډیر ډارولم هغه دا و چې بابا ته ونهٔ وایې ، بابا ډیر غصه ناك و او بیا د داسې جرم سزا خو یو پهٔ دوه وه.

ما د بابا د وهلو تصور کاوه ، لاړې مې وچې شوې او پهٔ بدن مې له ډاره رپا خوره شوه ، خو ده بیا موسکا پهٔ کټ کټ خندابدله کړه او پهٔ شخوند شخوند یې وویل :

– هو . . . هو ، ، ، زهٔ لا – لهٔ او له پوه . . .

همدومره بس و، زما زړه او ذهن د نورو ټیوټونو حاجت نهٔ محسوساوه ، د بابا لهٔ وهلو نه خلاصون پکار و ، بناً فوراً مې پهٔ وارخطایې کښې ورته وویل :

– ګوره . . . ګوره . . . بابا ته مهٔ وایه . . . بیا به داسې نهٔ کوم . پهٔ والله که به بیا داسې وکړم ، خو ګوره ای بابا . . . .

زما پهٔ خبرو د هغهٔ ورو ځې پورته شوې ، تندي یې کونځې پیدا کړې ، خوله یې خلاصه پاتې شوه ، حیران غوندې و خو بس همدومره یې وویل :

- ولې څهٔ دې کړي ؟

ما شايد دده، خبر وانه وريده او يا مې فکر پرې ونهٔ کړ، وار د واره مې وويل :

- اشاره ... اشاره ... نه ...هيڅ مې ...

ده، يو دوه ګامه پهٔ مخ واخيستل او ويې ويل :

- ولې پهٔ اشاره څهٔ شوي دي ؟

دده، دې سوال ما ته لړ مخته د نوي پيدا شوي شك جواز پهٔ ګوتو راکړ او يقين مې وشو چې دى لهٔ دې .نهٔ دى خبر چې ما يې د موټر اشاره ور ماته کړې ، او پهٔ دې هم پوه شوم چې ده، خو صرف د مينې پهٔ خاطر را ته خندل او اوس چې يې ځيره ډيره پريشانه ښکاريده او شايد د موټر د شا اشـ رې ته به ولاړ و، ما ترې منډه کړه .

١٩٨٩/٤/٤

# د څلورویشتو دیوالونو پهٔ منځ کښې

زموږ د نوي کور څنګ ته هدیره وه . څرنګه چې دلته ما لا څوک نهٔ پیژندل او بله دا چې پهٔ هدیره کښې شنې ونې ډېرې وې نو زهٔ به هر مازدیګر هلته تلم او نژدې یوه ګړۍ به مې پکښې چکر واههٔ ، چې ستړی به شوم نو هورې مې د ناستې لهٔ پاره یو وړوکی دیوال میندلی وُ وربه غلم او یوه ښه شیبه به پرې کښیناستم . دا دیوال به یو متر هومره لوړ و ، او کمال یې دا و چې دې دیوال ته تکیه شوي درې نور دیوالونه به پهٔ اوونۍ کښې یوځل نړیدلي او بیا لهٔ سره جوړ شوي هم وو خو دا به لا پهٔ خپل حال ولاړ و . دې څلورویشتو دیوالونو تر څلورو قبرونو غېږ را ګرځولې وه ، او پهٔ همدې غولې کښې یو بل قبر هم کېنستل شوی و چې لا تر اوسه یې خوله نهٔ وه پټه او تش پاته و . زهٔ دې قبر ته حیران وم چې ولې وار دمخه کېنستل شوی ؟ پهٔ ړومبیو ورځو کښې مې دا ویل چې څهٔ نو څوک به مړ وي او اوس به یې ورته

راوړي خو چې لا تر یوې اوونۍ هم ورځې واوښتې نو زما هیښتیا یې نوره هم را زیاته کړه ، زهٔ به هغه وخت لا ډیر هیښ پاتې شوم چې کله کله به مې پهٔ دې قبر کښې یو څه رد او بدل ولید ، کله به را ښکاره شو چې لحد یې لږ اوزد شوی ، کله به مې ولیدل چې ددې خاک پسور او اوږده ډیر شوي او یو وخت به دې ته متوجه شوم چې پهٔ لحد کښې یې خاوره لویدلي او لږ را لنډ شوی دی .

کهٔ څهٔ هم پر دې تش قبر هره ورځ کار کیده، او خاوره به هم تړې راوړته ، خو ددغو څلورو ټیټو دیوالونو پهٔ منځ کښې را نیولی غولی ما هیڅکله هم ککړ او یا چټل ونهٔ لید . تل به ذاسې پاك و چې ته وا هماغه شیبه چا جارو پرې را تیر کړی ، البته کله چې به لهٔ درو رنګیدونکیو دیوالونو څخه یو دیوال رنګ شوی و ، نو خښتې به یې پهٔ ډیره اوډلې توګه پهٔ یوه کوټ کښې ایښوډل شوې وې اوددغو خښتو او رنګ دیوال لهٔ امله به بیا لږه ډیره خاوره پهٔ دې څلور دیوالۍ کښې لیدل کیده .

زمور د ښوونځیو دا دود دی چې د هرې میاشتې پهٔ وروستۍ نیټه لهٔ وخته رخصتیږي . دغه ورځ هم د برابرۍ لهٔ مخې د میاشتې وروستۍ نیټه وه ، زهٔ لهٔ ښوونځي لهٔ وخته را رخصت شوم ، چې کور ته راغلم نو بې کارۍ دې ته اړ کړم چې هدیرې ته لاړ شم ، چې هلته ولاړم ، نو نیغ پر هغه دیوال کښیناستم چې پهٔ دغو څلورو دیوالونه کښې دا نه یواځې نهٔ رنګیده، بلکه پهٔ سمتو هم اوبدل شوی و ، پاتې دریو دیوالونو لهٔ دې دیوال نه پهٔ دې هم توپیر درلود چې هغه درې سره پهٔ خټوپورته شوي وو ، او د هغوی پهٔ منځ کښې ځینې تشې هم وې چې پهٔ ځانګرو

هندسي بڼو جوړې شوې وې او دېوال ته يې يو ډول ښکلا وربخښله خو څلورم دېوال چې دغه ګړۍ هم زه پرې ناست وم ، له سره تر پايه په عادي توګه جوړ شوی و ، او هيڅ ډول ښکلا يې نه لرله ، البته د سمټو برکت و چې ماته يې ډېر مضبوط را ښکاراوه او زه به پرې آرام ناست وم .

د غرمې يولس نيمې بجې به کېدونکې وې . ټوله هديره غلې وه . په شاوخوا کښې هيڅ بني بشر نه ښکارېده ، زه پر دېوال غلی ناست وم او تش خاک ته مې سترګې ور اړولې وې ، له هغه قبره يو ناڅاپه يو سپين سر را ښکاره شو . ورو ورو را پورته شو ، د هغه سپينې جامې وې ، هغه ټول سپين سپين ښکارېده ، زه ودرېدم . له واره له ځايه را پورته شوم او په منډه مې ځان کوزته ورساوه ، په ما خولې راماتې وې ، خو چا ته مې غږ ونه کړ ، په هغه ورځ مې کړه ورځ د ذهن په پردو کښې د پيريانو ، ديوانو اومړو کيسې را ګرځېدې او د کمکيني هغه شپې را يادې شوې ، چې ما ته به خوب نه راته او مور به مې په دغه ډول کيسوخوبوړی کړم .

له دغې شپې را وروسته تر څو ورځو زه هديرې ته نه ولاړم ، خو زړه مې را پسې و ، چې ورشم او له حاله ځان خبر کړم ، که څه هم وېرېدلم ، خو بيا مې هم د زړه ومنل او نن يو ځل بيا ورو ورو د هديرې په لور وخوځېدم ، خو د چارديوالۍ نه په ګرنديو ګامونو تير شوم او بيا مې پټ پټ شا ته ور ته وکتل او لږ لرې ورته ودرېدم . دا مهال ماذيګر و ، هديرې ته نږدې خلک هم ليدل کېدل . خو زما ټوله توجه په هغو څلورو ټيټوديوالونو کښې وه ، چې په منځ کښې يې يو خاک

لوځ و ، په هدیره کښې یوې شیبې تمیدنې ډاډه کړم او همدغه ډاډ هغو
خلورو ټیټو دیوالونو ته یو څو گامه ورنږدې کړم . هلته له نږدې ما
ولیدل چې یو سپین ږیری کړوپه ملاولاړ دی ، یو لاس یې ملا ته
نیولی او په بل لاس کښې یې یو زنګون لور دی .
د تندې له کونځو یې ما داسې وانګیرله چې سړی غصه دی ، هغه
لوځ قبر ته په ځیر ځیر کتل ، خو لږ وروسته یې پاس وکتل او زه یې
صحیح کړم ، هغه یو لاس پر تندې کیښود او لکه څوک چې لرې ورته
ولاړ وی ، ما ته یې ځیر ځیر وکتل او بیا یې په ټهریدلي غږ وویل :
- دلته څه کوې ؟ څه ورک شه . دلته کندونه جوړوئ ، ناپاکي کوئ ،
اونه ای ! دادې د پلار قبرونه دي چې ورته ولاړ یې !
زه هم نور تم نه شوم ، سر مې ښکته واچاوه او د کور په خوا رهي
شوم خو بابا بله پوښتنه وکړه اما داځل یې غصه لږه کمه ښکاریده :
- چرته ځې ؟
د بابا دې سوال حیران کړم ، دا ړومبنی ځل و چې ما دی لیده ، لیکن
ده داسې سوال وکړ لکه ډیر شناخته چې یې څوک کوي اوبیا دا لږ
مخته سپکې سپورې یې هم لکه چې هېرې وې ، زه وارخطا غوندې وم
د ځواب ورکولو توان را څخه نه و او نه پوهیدم څه وکړم ، خو ده هم
زه ځواب او فکر ته پرینښودم او یوه بله پوښتنه یې وکړه . داځل یې
لهجه ډیره نرمه او پسته وه :
- څه وخت دی ؟
ماګړی ته وکتل ، د مازدیګرشپږ نیمې بجې کیدونکې وې ، ما دی په
پوړیدلي او ویریدلي غږ له وخته خبر کړ او د سترګو له چولو مې ورته

کتل ، لهٔ بابا سره یوه امسا هم وه ، دهٔ ماته نور څهٔ ونهٔ ویل ، لهٔ ځان سره یې ورو ورو څهٔ ویل ، لکه چې کومه سندره زمزمه کوي ، خو څومره چې مې اوریدلای شوه نو پهٔ دې پوه شوم چې سندره نهٔ وه . دی ورو ورو را مخته شو او یوهٔ دیوال ته ودریداو د امسا پهٔ اوږدو یې هغه دیوال اندازه کړ او وروسته یې بیا ټول دیوالونه پهٔ هم هغې امسا وکچل او چې لهٔ دې کاره هم خلاص شو ، نو پاس اسمان ته یې خپلې سترګې ونیولې او ویې ویل :

– بس ما ښام کیدونکی دی ، د خدای د یادولو وخت دی ، ځه لاړشه تهٔ هم خدای یاد کړه ، همدا به دې پهٔ ښه راځې دا لا څهٔ دنیا ده .

زه ولاړم او بابا ورو ورو لهٔ ځان سره لا ګونګیده .

سبا ماسپښین زهٔ بیا راغلم ، بابا هغو دریو رنګیدونکیو دیوالونو ته کتل ، خولې پرې را ماتې وې او پهٔ فکر کښې و ، زهٔ ورته غلی ودریدم ، د هغهٔ لږ وروسته را پام شو او چې څرنګه یې صحیح کړم نو پهٔ مینه یې را ته وویل :

– زویه لږې اوبه خو را باندې وڅښه .

ما ښه وکړل پهٔ منډه کورته ولاړم ، او چې اوبه مې ورته راوړې او خپله پر هغهٔ ځلورم دیوال کښیناستم ، چې څرنګه بابا اوبه وڅښلې ، نو پهٔ قهر شو او ما ته یې لهٔ هغه ځایه د پورته کیدو وویل ، خو بیا یې ورو غوښتم او پوښتنه یې را څخه وکړه :

– دانشقه ( نقشه ) ښه ښکاري ؟

بابا هغو دریو رنګیدونکیو دیوالونو ته اشاره کړې وه او پهٔ هغو کښې یې هندسي شکلونه را ښودل ، ماپرته لهٔ دې چې ورته ځیر شم او

يا هم فكر پرې وكړم هو ور ته وكړل ، بابا زما له ځواب نه وروسته هم هغو ديوالونو ته لږ ځير شو او ويې ويل :

- نه دا يو سنه دی. را څه چې رنګ يې كړو .

بابا له دې وينا سره سم له هغه ديواله په خپل پوړيدلي لاس يوه خښته را بيله كړه او د ديوال په رنګولو يې پيل وكړ. زه هم ورمخته شوم ، يوه خښته مې را جلا كړه او يو اړخ ته مې واچوله ، او چې ما د دوهمې خښتې له پاره لاس مخته كړ ، نو بابا په قهر را ته وويل :

- دغه څه كوې .؟ را پورته يې كړه ، ځوك به يې پته كړي‌دا دغله زامن ته نه پيژني .

ما ژر هغه خښته را پورته كړه او د بابا له حكم سره سم مې د چار- ديوالي په منځ كښې يوه اړخ ته واچوله ، چې ديوال دوه درې خښتې پاته شو ، نوبابا د مازديګر لمانځه له پاره ولاړ او زه هم ترې وخوځيدم ، او بيا ژر دوو دريو ورځو ما له بابا سره ونه ليدل . كه څه هم زه مازديګرمهال اوس هلته تلم خو بابا به مې هلته نه ليد ، نن مازديګر زه بيا پر هغه خپل ديوال ناست وم او دريو ديوالونو ته مې كتل چې دغه دم بيا پورته شوي او تيار و . په خالي قبر هم كار شوى و ، زه تر ډيرو هلته كښيناستم ، يو وخت مې د ټوخي غږ واوريد او چې د غږ لور ته مې سترګې ور واړولې نو بابا مې وليد چې د سړك له لوري په ډيرمشكل په ديوال را اوړي او چارديوالي‌ ته را كوزيږي ، د هغه په ليدو سمدستي له ځايه پورته شوم ، ځكه چې ده‌ء ددې ځاى له ناستې منع كړې وم ، خو چون په تيرو ورځو كښې ما له ده‌ء سره نه يواځې داچې ډيرې خبرې كړې وې بلكه كار مې هم ور سره كړى و نو په نسبتاً

واده غزمي وپوښت :

- بابا دلته يوه دروازه ولې نهٔ زدې چې پهٔ اسانه ورته راشي ؟

بابا پاس را ته وکتل او بيايې پهٔ ټيټ غږ ځواب را کړ :

- دلته بيا خلك راځي - مردار خلك - ناپاکې جوړوي .

بابا نور څه ونهٔ ويل ، خپل لور يې راواخيست او د خالي قبر خولې ته کښيناست او پهٔ لور يې د هغه قبر ژې ورو ورو وتراشلې ، بيا ورته ځير شو ، لکه چې اندازه کاوه ، يې ، ما لهٔ بابا نه ددې قبر پهٔ هکله پوښتنه وکړه :

- بابا دا قبر د چا دی ؟

بابا پرته لهٔ دې چې را ته وګوري ، ځواب راکړ ، البته لهجه يې نرمه وه :

- زما دی .

- ستا ! ؟

زما لهٔ خولې « ستا » ټکی ناڅاپي ووت خو سملستي مې پسې بل سوال وکړ :

دا څلور پټ قبرونه د چا دي ؟

د بابا اوس هم سترګې ښکته وې ، پهٔ هم هغه لهجه اما ولاړ غږ يې را ته وويل :

- زما د پلار ، زما د نيکه ، زما د مور ، زما د ورور .

لو چې څرنګه بابا دا ځواب سر ته ورساوه ، نومغ يې را واړاوه ، او پهٔ غصه يې را ته وويل :

- ته دلته څهٔ کوې ؟ څه پهٔ خپله مخه .

زهٔ بابا ته پهٔ قهر شوم ، خو خهٔ مې ورته ونه ويل او ومې پتيېله چې زياتي به دلته نهٔ راځم ، او پهٔ رينبتيا هم دادى نن پنځمه وه ، چې زهٔ دهديرې پهٔ لور نه وم راغلى ، خو نن چې لهٔ كوره راووتم نو د هديرې خوا ته مې گنه گونه وليده . زړهٔ مې وغوښتل ، لهٔ حاله ځان خبر كړم ، همدغه تجسس بيا د هديرې پهٔ لور ورروستم ،او لهٔ چا مې پوښتنه وكړه ، چې كيسه څهٔ ده ؟ ځواب راكړل شو چې پهٔ لرې كوڅو كښې يو بابا وٌ هغه مړ شوى ، دلته يې ښخوي ، زه لږ ور مخته شوم اوتر قبره مې ځان ور ورساوه ، لايې پر مړهٔ خاورې نه وې اچولې ، د ورروستي ديدن لهٔ پاره يې مخ ور لوڅ كړ . ما هم د مړهٔ مخ وليد ، خو سخت خواشينى شوم ، ځكه چې دا بابا خو هغه بابا و چې دلته به ما ليد ، خوا مې پرې بده شوه او لږ ويره هم را ولويده ، ترې را په شا شوم او چې د كور پهٔ لور را روانيدم نو پښه مې پهٔ يوې خښتې ولگيده چې لاندې مې وكتل نو د بابا جوړ كړى ديوال د جنازې لهٔ پاره رنگ شوى و او زما پښه د همدغه ديوال پهٔ يوې خښتې لگيدلې وه ، دديوال خښتې نا منظمه پرتې وې ، تش قبر پټيدونكى و خو د څلوروتيهو ديوالونو پهٔ منځ كښې غولى ككړ و ، او يو گڼ شمير خلك هم هلته ولاړ وو .

مارچ - ۱۲/ ۱۹۹۱

# کلاشنکوف

د شاومه چرګې نن بیا هګۍ اچولې وه.شاومد نن هم د تل غوندې هګۍ وار له واره را واخیسته او د کور دالان ته ورغی . د لرګو وړه ټوکرۍ یې ، چې په چت پورې ځړېده ـ را ښکته کړه.نوې هګۍ یې په نورو هګیو کېښې کېښېښوده او د نور کله په شان یې یو ځل بیا ټولې هګۍ وشمیرلې ، خو لږ څه فکر یووړ او بیا یې ورو ورو یوه یوه هګۍ بیرته په ځای کېښوده .

شاومد لا شل هګۍ باقي و . که ده شل نورې هګۍ ټولې کړې وای نو لالا به یې ده ته له وعدې سره سم کلاشنکوف ورکاوه . دده لالا درې میاشتې دمخه ده ته دوه چرګې اخیستې وې او ورته ویلي یې ووچې په دې شرط به ده ته دده د خوښې کلاشنکوف ورکوي چې دی شپیته هګۍ ټولې کړي .

له یو څه فکر وروسته شاومد موسکی شو ، ژر ژر یې ټوکرۍ

پورته کړه او په چټ پورې یې په را څېړدونکي پړې پورې وځړوله ، او خپله په منډه مور ته ورغی ، له نوې هګۍ او له مجموعي شمېره یې خبره کړه او بیرته له کوره ووت .

شاومد ډېر خوشحاله ښکارېده ، ځکه چې د هغه زړه اوس منلې وه چې کلاشنکوف به اوس ډېر ژر پیدا کړي . ده به په ذهن کښې په دغه کلاشنکوف کله روسان وژل او کله به یې بیا د ذهن په پردو کښې لیدل چې دده په اوږه پروت کلاشنکوف د کلا ټول ماشومان زهیر کړي او د هر یوه ورته خوله اوبه شي .

ده اوس هم همدا فکر کاوه ، خو دده د خیالونو پرده له کلا بهر د خلکو په خبرو پرې شوه . د ګڼو خلکو غږ راته . شاومد ګامونه ورچټک کړل او بهر ورغی ، هلته دغه دم د مجاهدو یو ګروپ راغلی و .

هغوی له روغبړ وروسته اوس پیناوي ته ناست وو ـ شاومد له ټولو ور تیر شو او بره خوا له «سرور» سره د پښو په سر کښیناست .

دسرور کلاشنکوف دده تر ټولو ډېر خوښ وه شاومد دواړه لاسونه په زنګنو کیښودل او دوه سترګې یې ورته ونیولې .

د «سرور» کلاشنکوف لنډ او بې کنداغه و . شاومد به تل له ځان سره ویل ، چې بس دغه ور کلاشنکوف دده له پاره جوړ شوی ، ځکه چې نه ډېر درونډ دی او نه هم لکه د نورو ډېر اوږد . سرور چې د شاومد دوه سترګې کلاشنکوف ته ولیدې نو ورته ویې ویل :

ـ کلاشنکوف ‌ دې خوښ دی ؟

شاومد لږ وخندل او بیا یې په ټیټ غږ ځواب ورکړ :

ـ هو !

د سرور پهٔ نسبتاً لوړ غږ پوښتنې د ټولو پام شاومد ته کړی و، خو د شاومد د واړهٔ او ټیټ غږ ځواب ، خلك ډیر ژر په نورو خبرو کړل او لهٔ ده یې توجه واوښته .

شاومد چې ولیدل خلك نور ددهٔ پلو ته نهٔ ګوري نو سرور ته یې وویل :

– دا وار چې مې لالا له ایرانه راشي نوما به اګی ( هګی ) پوره کړي یې ، بیا مې لالا ما ته کلاشنکوف راکوئ .»

سرور د خلکو خبرو ته غوږ و ، د شاومد پهٔ خبرو سم پوه نه شو او څه یې ونهٔ ویل ، خو شاومد لهٔ لږ خاموشۍ وروسته سرورو پوښت :

– پهٔ ایران کښې خلك ګټه زر کوئ – کنه ؟

سرور بیا هم ددهٔ خبر وانه وریده ، خوداځل یې هو ورته وکړل او شاومد بیا چرتونو سره یوړ . خو چې لږ ساعت وروسته مجاهد او کلاوال د مازدیګر جمعې ته ور پورته شول ، نو دهٔ هم لهٔ هغهٔ ځایه د کور مخه وکړه .

شاومد پهٔ لاره کښې هم د شلو هګیو او واړهٔ کلاشنکوف چورتونه وهل ، خو چې د چرګانو کوډل ته ورسید نو چرګو ته یې پام شو ، چرګې لا کوډلې ته نهٔ وې راغلې خو دهٔ د هغوی اویو او دانې ته وکتل اوبه بیرته بیرته یې د دالان پهٔ لوړ ګامونه ور واخیستل ، او هلته یې لهٔ موره پټ د غنمو لهٔ کندو یو موټی غنم را واخیستل .

پرون هم ددهٔ موردی پهٔ دې سپك کړی وچې چرګوته غنم مهٔور-اچوه، ځکه چې درمندونه سوځیدلي او د بازار غنم د اور پهٔ بیه دي ، خو شاومد پهٔ دې فکر کښې و چې شل هګۍ پکار دي .

او کۀ چرته دا نۀ وي نو چرګې به هګۍ نۀ اچوي .

شاومد د غنمو لۀ پټونې وروسته یو څۀ اوبه هم ورسره را واخیستې او د چرګانو پۀ کوډلې کښې یې کښېښودې ، خپلې چرګې یې لۀ دیرانه پسې را واخیستې ، پۀ کوډله یې ننیستې او د کوډلې ورېې پسې ټینګ کړ ، یو ساعت یې لۀ بهره ورته وکتل او چې بنه خاطر جمع شو نو د دالان پۀ لور وخوځید .

شاومد د کرۍ ورځ منډو ستړی کړی و ، ماښام چې یې ځرنګه مړۍ پۀ خوله کړه نو وار لۀ واره پریوت، سهار بیا لمانځه مال را ویښ شوی و او تر مخ لاس وینځلو لۀ مخه بیا کوډلې ته ورغلی و او چرګې یې خوشې کړې وې .

پرون مازدیګرچې کوم مجاهد راغلي وو ، هغوی نن تر چایو وروسته نور ولاړل اوشاومد هم لۀ ګل لالاسره غواومړان پټو ته وایستل ، شاومد دوی هم وروسته د مکتب لۀ سوځیدو هره ورځ د نورو ماشومانو پۀ څیر، مړان پټو ته بیول او تر غرمې به بیا هلته وو ، خو نن به یې لایو ساعت هم نه وتیر چې د ټانکونو غږیې واورید . دوی پۀ منډه منډه کلا ته راغلل ، خبر یې را ورساوه او بیا د کلا زلمي د شاومد لۀ ګل لالا سره یو ځای د غرۀ پۀ لور وخوځیدل .

شاومد د نور کله پۀ شان ویرې سره اخیستی و ، د سپین ږیري پلارلمن یې نیولي وه او منتظر و چې څۀ به کیږي .

قوه را نږدې شوه او لږ وروسته یې د کلا څلور سره خواوې محاصره کړې ، پیاده عسکر کورونو ته را ننوتل او تلاشی شروع شوې .

شاومد د ویرې پۀ حال کښې هم د یوه ، روسي عسکر کلاشنکوف ته

پام شو ، دا کلاشنکوف هم د سرور د کلاشنکوف غونډې لنډی او سپک و
- د شاومد زړه ته وروګرځیدل چې کاش همدغه یو ده وای ، ځکه
چې دا کلاشنکوف د لالاتر کلاشنکوف هم ښکلی ، نوی اوپرېښلونکی
و . عسکرو چې کوټه لټ پېلټ پلټلې وه اوس دالان ته ورغلي وو ،دلته
یې هم زاړه ـلوښي کوډي وکتل او چې هیڅ یې هم ګوتو ته ورنه‌رغلل نو
یوه ـ یې ضربه وچلوله .
شاومد بې اختیاره چیغې کړې خو پلار یې ژر په خوله لاس ور-
کیښود.په شاومد هیڅ نه وو شوي ، کور کلا ته هم خیریت و . عسکر
نور تللي وو ، خو هغه کلاشنکوف چې شاومد د لالا تر وال ښه ګڼلی و
ده د هګیو ټوکرۍ سیکته را غورځولې وه او هګۍ ټولې ماتې شوې
وې .

اپریل-۱۹۹۰ ع

PROPERTY OF ACKU 3976

# اولاد

لږ دمخه لا اسمان شین و ، ستوري ښکاریدل چې بریښنۍ خو لوس تورو وریځوپه شنه اسمان د ستورویو مخ نیولی و او تیاره نوره هم ډیره شوې وه ، تیز باد لګیده اود باران څاڅکي یې ځای بې ځایه غورځول ، ځلیدونکي بریښنا به شاوخوا و ځلوله خو سم دستي به بیا تیاره شوه او د تالندې غورا به « ددۍ » لا پسې وویروله .

« ددۍ » پریشانه اوحیرانه وه چې آخر ګل احمد لا تر اوسه ولې نهٔ دی راغلی ؟ ګل احمد د « ددۍ » زوی و.هغه به هره ورځ د ماښام لمونځ کور ته را رساوه، او چې د کور په تناره کښې به سکروټې سرېدې نو د هغه ستړیو اندامونو به کټ ته پناور وړې وه او ستړ ګې به یې هم له خوبه درنې شوې وې ، خو نن دادی شپه پخه شوه ، د « ددۍ » ږوږی په سرېدو شوې او دده لا درک نه و .

« ددۍ » هیڅ نه پوهیده چې پهٔ کومه ولاړه شي او چا ته ودریږي ،

د گل احمد د کار روزگار ځای ځایگی نه و معلوم، کله به دلته ولاړ و ، کله به هلته . هغه به لهٔ هر چا سره ته، او د چا بار به یې په شاو . «ددی» حیرانه وه چې گل احمد به لوس چرته وي او دا یې چرته پسې وغواړي .

پهٔ دې سپارگی کېښې د « ددی » یوه لورلوسیده هغه هم لهٔ دې ډیره لرې پهٔ خپل کور کېښې ، « ددی » څو واره څادر ورواخیست ، چې د هغې کور ته ورشي ، خو زړهٔ یې زړهٔ به شوه او بیرته به پر ځای ودریده.

خو چې لږ ساعت تیر شو نو دې نور صبر ونهٔ کړ ، خپل څادر یې ور-واخیست، د گل احمد پهٔ لټې پسې یې پښې لوڅې کړې او لهٔ کوره ووته .

باران اوس څاڅکی څاڅکی نهٔ وریده، بلکه سمې ناوې یې بهولې ، خو « ددی » هیڅ شي ته نهٔ کتل ، خپله لار یې وهله او مختلفو فکرونو پسې اخیستې وه ، دا یواځې روانه وه ، گړندي گامونه یې اخیستل او پهٔ ټک ټک کېښې به یې شاوخوا ته کتل چې گل احمد صحیح کړي ، خو کوڅې او بازارونه لوټ وو ، یو نیم سړی که به ښکاره شو هم نو پهٔ منډه به و ، نهٔ یې دې ته کتل او نهٔ به یې هم بل چا ته پام و ، اما « ددی » به هر لاروي ته پهٔ ځیر ځیر کتل او لهٔ لرې ور پیدا شوي هیله چې گوندي گل احمد به وي لهٔ نږدې بیرته پهٔ یاسوتوبدله شوه او لهٔ څه صبره وروسته به یې بیا مزل شروع کړ .

« ددی » اوس د لور کور ته بیخي ور لنډه شوې وه ، د هغې د کور ور لهٔ ورایه ښکاریده خو « ددی » یو دم پښه ونیوله او لهٔ کوره راغلي چټک گامونه یې پښه نیولي کړل ، پهٔ فکر کېښې شوه چې لورته ورشي کهٔ نهٔ ، دوه زړې وه-یوهٔ زړهٔ یې ویل چې ورشي خو بل به یې

ویل چې هسې نهٔ ځغه وارخطا شي . ځغې ته سودا ور ونهٔ لویږي لو ځغهٔ پهٔ دې نیمه شپه ... خوبیا به یې زړهٔ ورته وویل چې همدغه یې وخت دی ورشه د زړهٔ بار به دې سپک شي اوچې خپل قریب پهٔ سخته کښې پکار نه شي نوپهٔ بنهٔ ساعت کښې خو هر څوك ښهٔ وي ، همدغه خیال یو دوه ګامه بیا پرې چټك کړل خو بلکل دوره مخته یې لکه چې بیا پلې مړې شوې ، پهٔ ځای ودریده او بیا وړ وړ فکرونو پسې واخیستله ، شیبه نیمه وروسته لږ نورور مخته شوه او د ورهٔ لهٔ چولو یې د کور پهٔ بې رڼا او تش غولي نظر واچاوه . دې هیڅ ونه لیدل ، لوهیڅ یې وانه- وریدل ، یو ساعت یې زوی لهٔ زړهٔ ووت او د لور پهٔ خیال کښې شوه ، خو ژر ځان ساده ورته ښکاره شو، او بیرته د زوی پهٔ فکر کښې شوه ، د ورهٔ چوکاټ یې ټینګ ونیو ،سر یې ښکته واچاوه او چې ښهٔ ساعت فکر یووړه نو بیرته را ستنه شوه ، ژړا ورغله ، چیغې یې کړې ، منډې یې ووهلې خو بیا پهٔ ځای ودریده ، شا ته یې وکتل د لور کور یې یو ځل بیا لهٔ لرې و ځاره خو سر پرې وګرځید او پر څمکه را پریوته .

او چې سترګې یې وغړولې نو سم دستي یې تر سهارنی دمخه لا ګل- احمد د خورکره ولیږه چې حال احوال معلوم کړي ځکه چې دې ډیر بدخوب لیدلی و .

# چاچا رفو

د پیښور د زاړه ښار په دروازه چې ننوځئ نووارله واره که څهٔ هم نسبتاً پلن سړك په مخه درځي خو چې دوه ګامه تیر شئ نو نه یواځې سړك تنګ شي بلکه له تیارو او کږ لیچونو هم ډك شي .

دواړو غاړو ته اکثراً درې او څلور منزله کورونه وي ، اوچون له ډیرو وړځو شپو دا کورونه ولاړ دي او کار هم په کښې د لرګو شوی نو په سرکښې د کمزوریولهٔ امله سره غاړې وتي او دغه راز لاندې کوڅې یې نورې هم تیاره کړې وي . ډیر ځایه خو سړی د اسمان له رنګه هم نه خبریږي .

په همدغو تنګو کوڅوکښې چې یو نیم ځای کورونو ته د لرګیو ازمونه لګیدلي او د کورونو ناولیو اوبو ته لښتي جوړ شوي نو د هغوی بو هم نور هم کم کړی او علاوتاً بوی او تعفن هم پکښې ډیر وي .خو ددې هر څهٔ سره سره دلته ژوند ډیر ګرندی او خلك ډیر مصروفه وي .

چون نوې ودانۍ د همدې زاړه ښار شاوخوا شوي نو د ښار له یوې څنډې بلې څنډې ته د ټک لنډه لار هم همدا ده ، ځکه نو دلته ګڼه ګونه خورا ډیره وي .

همدلته ګام پرګام دوکانونه دي او سود سودا هم ښه ده ، ځکه چې د لارې خوله ده ، که هر څوک لږه سودا هم اخلي نو له څاڅکو څو هسې هم دریابونه جوړیږي ، خوله په خوله دوکانونو باید د دوکاندارانو اوقات تریخ کړی وای خو دوی خوشحاله دي ، هرچا ته یې خدای رسوي او بله لا دا چې دلته دوکانونه هم وړ وړ دي . که یوه قصابۍ ته ملا تړلې نو بل جامې ګنډي او څنګلوری یې د بقالۍ ( پنسارۍ) ګټې ته ناست دی .
مخامخ به یې نانهای وینې او لږ ښکته پورته د ویدیو ګیمز دوکان او نور کسب ګر چې په حلاله روزۍ پسې راوتلي دي .

په همدغو کوڅو کښې چاچا رفو نایي هم دوکان نیولی او دا ډیر کلونه یې وشول چې ښه ګذران یې کیږي . هره ورځ یې دوکان له خلکو ډک وي ، بالخصوص چې د جمعې لمر را وخیژي او دده په زاړه ټایپ کښې د قرآن مجید آیتونه او وروسته نعتونه هم ختم شي نو د خلکو وار مدار پرې بیا نه وي .

دی څو واړه تشنابګي ( غسل خانې ) هم لري او دغه راز له نایي توب سره د حمامې په توګه هم فعال دی . نوم خو یې اصلاً رفیع الله دی لیکن د محلې خلکو له هغو ورځو لا په چا چارفو مشهور کړی چې اوسني زلمي لا پرې خبر هم نه دي . چاچا رفو به پنځوس کاله سرې تودې لیدلې وي . خو د سر ویښته یې د غوزو له سره پرته نور ډیر تور دي . خپله هم د ځوان زړه خاوند دی . په تندي به یې کونځې په اله-

اسانه ونه گورئ . ژبه يې تر بياتي تيره ده او بياتي يې تر ژبې ، شايد همدغه علت دی چې تر نورو ښه خوري او ښه گټي .

هرسهار دوه اخباره دده، دوکان ته اخباروالا راوړي ، او وروسته لهٔ دې چې زلمي يې عکسونه وگوري او ساعت هم د لسو بجو پهٔ شاوخوا شي نو متقاعد ( ريټايرډ ) مامورين دده، دوکان ته مخه کړي اوپهٔ اخبار کښې ډيرکم ټکي بې لهٔ لوستلو ورته پريږدي . لهٔ همدغومامورينو ( سرکاری ملازمينو ) سره چاچا رفو بحثونه او پان نه قضا کوي او پهٔ همدغه وخت کښې چې چای والا د شيدو چای هم ورته را ورسوي نو دچاچارفو وريځې يو ځهٔ پهٔ غروروړته شي او پهٔ داسې حال کښې چې يو نيم سر يا ږيره جوړوي ، خپلې خبرې نورې هم پهٔ زوته کړي . دی عموماً پهٔ سياسي موضوعاتو غږيږي خپله هم له يوه، سياسي گوند سره تړلی دی،ليکن د بحثونو پهٔ وخت کښې چاچا رفو د ترازو تلې ته گوري ، کهٔ يې د خپل گوند مخالف وليد نو پهٔ مره خولهٔ او لږې اشارو د خپل گوند صفت ورته کوي اما پهٔ داسې طرز او طريقوچې نهٔ يې سيخ سوځولی وي او نه هم کباب .

د چاچا رفو دوکان غرمه مهال اکثراً تش وي خو چې ځرنگه لمر تر نيمايي اسمانه هم ور ښکته شي او خلکو هم لهٔ غرمنې خوږه سترگې رنې کړې وي نو دده، دوکان ته بيا د خلکو مخه شي .دغه وخت چاچا د سندروکسيټونه ښهٔ پهٔ زوره غږوی او کوم زلمی چې تش د وينتو زمنځولو لهٔ پاره ورته راغلی وي ، هغوی د چاچا صفت کوي او ددغو ستاينو پهٔ برکت چاچاد سندرو غږ نور هم پهٔ زوته کړي او دغه راز پهٔ هغو تنگو ، تاريکو کوڅو کښې شور او زوږهم يو پهٔ ځوکړي .

د انتخاباتوشپې ورځې چې راتلې نو چاچا رفو د سندرو کسیتونه په یو خوا کړي وو او د هغو په ځای یې د خپل ګوند د مشرانو ویناوې ایښې وې . په دغو ورځو کښې دده په دوکان سَیاسي بحثونه تر حد اوښتي وو او د متقاعدو مامورینوزره هم په آله اسانه له دې ځایه نه ته خو دا ټولې میلې او کیسې د انتخاباتو له ختمیدو سره یو ځای ختمې شوې . کله څه هم چاچا رفو تر یوې میاشتې پورې خفه و او بریتونه یې ځړیدلي وو . شپه ورځ یې غوږکی و چې دا انتخابات ناروا شوي او ... خو پوره یوه میاشت وروسته سړی نور غلی شو او بیرته یې ژوندلکه د پخواعادي شو ، البته د حکومت غیبتونه یې په خپلوسیاسي بحثونو کښې جاري و ساتل اوپه غیر مستقیم ډول به یې په غیر سیاسي بحثونو او خبرو کښې هم حکومت ته چونډۍ ور لګولې او دخپلې ځوانۍ ورځې شپې به یې له اوسني وخت سره په مقایسې دا ښودل غوښتل چې نرخونه څومره پورته شوي او د غریبو کور څومره مخ په خرابیدو دی .

عجیبه دا وه چې هغو زلمو هم له چاچارفو سره دا هر څه په سرو سترګو منل چې د همدې حکومت له پاره یې شپه ورځ یوه کړې وه او په انتخاباتو کښې یې سرونه مات کړي وو .

چې میاشت واوښته او د چاچا رفو بحثونه نه یوازې ټولو ته خوندوربلکه د منلو وړ شول نو چاچا رفو دا غاړه هم پرېښوده او نور یې په اخباري لیکونو د خپل فهم مطابق تبصرې شروع کړې ، دده تبصرې به عموماً د روان حکومت د ختمیدو او د نویو انتخاباتود کیدنې له پیشګویۍ نه وې . د بهرنیو ملکونود مرستو معمولي څند ده ته د

حکومت د ختمیدني اشاره ښکاریده او په هیواد کښې به که څوک چیرته چا وولږه نو چاچارفو به د دوهم نړیوال جنګ نه مخته د شوي پیښو ذکر شروع کړ اووروسته به یې وویل چې دا هم همداسې پیښې دي او نور زموږ خیر نشته.نوی حکومت پکار دی اوخلك له عذابه خلاصول پکار دي .

او چې ورځې شپې واوښتې نو په ریښتیا حکومت رنګ شو او د نوي انتخابونو ویناوې وشوې . د چاچارفو پیشګویي په سلو کښې سل سمه را ووته او چاچا خپله خوښي نوره پټه ونه ساتلی شوه . په داسې حال کښې چې له پانه سره خوله به یې په تازه پان لاپسې سره کړه ، وبه موسید او د پان په ورو ورو ژوولو سره به یې وویل چې آخر خانداني سیاست دانان یو .

د نویو انتخابونو ورځې لرې نه وې . په څو ورځو او څو ویناوو کښې بیا وخت را رسیدلی و ، په هغه ورځ چاچا رفو دوکان ته قلف (تاله ) ور اچولی و او په خپل سر یې تر پخوا یوه لپه تیل نور هم زیات تپلي وو ، او د زیړ کمیس سپین پرتوګ جامې یې هم اغوستې وې.دا جامې به د ه، عموماً د خوښیو او ښادیو په ورځوکښې اغوستې ، او نور کله به یې غلې کړې وې .

نن د هر ګوند له خوا موټر نیول شوي وو او دا موټر هرې خواته کرې ورځ ښکته پورته په خفاسته روان وو . چاچارفو تر ټولو له مخه په یوه موټر کښې ځای وکړ او بره خوا کښیناست .

پولنګ سټیشن ته په رسیدو چاچا رفو د زنده باد او مرده باد چیغې سورې جوړې کړې او له ډیره جوشه تك سور سره واوښت ، ځنګ ته ولاړ

پولیس ور مخته شول، چاچا یې له متو ونیو او په داسې حال کښې چې چاچا رفو شور جوړ کړی و، موټر ته یې وخیژلوه، ځکه چې ده د قوانینو پر خلاف دلته شعاروونه ورکول . انتخابات سر ته ورسیدل . د چاچا رفو ګوندیری ومونډ او له انتخاباتو وروسته چې کله اخبارونو د شوریو پیښو کیسې او رپوټونه خپرول نو د چاچا رفو خبر هم خپور شو.

اخبارونو لیکلی وو: د زاړه ښار په حوزه کښې پولیسو وروسته له ډیرو هڅو یو تن مشتعل کارکن ونیو ، د پولیسو ویاند خبر ورکوي چې هغه اشتعال انګیزه تقریرونه کول او ددې خطر یې پیدا کاوه، چې دلته جنګ جوړ شي . ملزم له پولیسو سره دی او له لومړنیو تحقیقاتو نه وروسته به مقدمه عدالت ته پیش شي .

اولوس چې د چاچا رفو دوکان بند دی، هغه زړې او تاریکې کوڅې لا هم هغسې په ګته ګونه کښې دي ، خو دده له دوکانه چې به مازدیګر مهال کومې سندرې اوریدل کیدې، هغه اوس نه اوریدل کیږي او خلکو هم بل دوکان ته مخه کړې ده .

# تش دهليز

د موټرېڅ شيشو خوله ددوی لهٔ خولې نه د راوتونکې ساه لهٔ امله پيدا شوې وه . باران لا تر اوسه ميده ميده وريده . د ماښام اووه بجې کيدونکې وې او پهٔ لوی پاخهٔ سړك پرته لهٔ يو نيمه موټره چې صرف دوه بل څراغونه به يې ښکاريدل نور هيڅ شی نه معلوميده . خو ددوی پهٔ وارهٔ موټر کښې يو کوچنی څراغ روښانه و. د هغهٔ زيړې رڼا ته دوی يو بل سره ليدلای شول .

ډير ساعت وشو چې دوی پټه خوله ناست وو ، څه يې نه ويل.په تنديو يې ګونځې ښکاريدې خو دا د عمر اثر نه و، دواړه به ايله تر ديرشو اوښتي وو . خو اوسنيو ځړيدليو مخونو يې عمر تر دې څو کاله زيات ښکاراوه . دوی دواړو په ظاهره سړك ته کتل خو داسې ښکاريدل لکه چې چا مجبوره کړي وي ، او يا شايد بله لار پرې دريدلې وي ، او پرته لهٔ دې چې مخته وګوري دوی نور څه کولای هم نهٔ شول . لارلا

ډېره اوږده په مخ کښې پرته وه .

- باران ودرېده !

د موټر چلوونکي شاید د سکوت ماتونې او پام غلطونې په غرض همدا دوه ټکي ویلي وو، خو ملګري يې هيڅ ونه ويل او اوس يې هم لا هم هغسې مخ ته کتل او داسې ښکارېده لکه چې يې نه وي اورېدلي او يا نه يې غوښتل چې څه واوري يا ووايي .

ده حتى د هغه سوال کوونکي او ړېدلي مخ ته هم ونه کتل او لږ وروسته يې يوه سړه ساه وايستله او پرته له دې چې د هغه دخبرې په هکله څه ووايي يا څه اشاره ورته وکړي ، نور څه يې وويل داسې څه چې په اورېدو يې ملګري هم ساړه اسويلي وايستل او هيڅ يې پکښې ونه ويل - ما هم دلته لېدلي و، په رومبي ځل ، واقعاً که نن سبا فرشتې وي نو يو پکښې دی و-خو -ژوند ؟!

-عجيبه ده له دومره خوارۍ سره دومره مينه دومره زړه ...

-حتى تر وروستي ساعته يې لا هيڅوك نه ووهېر ، د هر چا پوښتنه او ... خو خدای پاك ښه پوهېږي .

د موټر چلوونکي په همدې خبرې يو ځل بيا خاموشي شوه. دواړه ملګري په سوچونو کښې ډوب شول او يو وار بيا يې لکه د پخوا هم هغې لار ته سترګې ونيولې چې د يو ساعت مزل يې پرې کړی واو لا مخته روان وو. دوی دواړه داسې ايسېدل ته وا يو له بله مرور دي خو ددوی واړه موټر په ځغاسته مزل کاوه .

په همدې سکوت کښې دا دی اوس د ښار څنډو ته را رسېدل . په سړك يو څه ګڼه ګوڼه را پيدا شوه او ددوی دموټر هم ګامونه پښه نيولي

شول .

چلوونکي يوځل بيا ملګري ته مخ واړاوهٔ او ويې ويل :

لهٔ ما خو يې صرف زر روپۍ غوښتې وې خو زهٔ لا څهٔ خبر وم ...؟

ملګري يې پرته لهٔ دې چې ورته وګوري وويل :

لهٔ ما خو يې تر دې هم لږې غوښتې ، ژوند يې خراب و. لهٔ کارو باره هم لويدلی و،هيڅا هم مرسته نهٔ ورسره کوله .خو افسوس اوس څهٔ کيږي او څهٔ وکړو هيڅ .

د موټر چلوونکي چې دغه دم مخامخ لارته کتل،د ملګري پهٔ خبرو سر وښوراوهٔ او ملګري يې د ښي لاس موټ پهٔ بل رغوي وواهه او يو سوړ اسويلی يې وايست.چلوونکي چې لار ته کتل او لږ حيرت وړی ښکاريده ويې ويل:

پهٔ ژوند هيڅ اعتبار نهٔ شته . تهٔ وګوره څو ساعته پخوا دی لا لهٔ راتلونکي انجامه نهٔ و خبر .څومره ارمانونه به يې وو ؟ هر څهٔ خاوری شول . پنځوس کاله لکه د يوې ګړۍ هسې تير شول ، خوښۍ،غم ، درد هر څهٔ تر خاورو لاندې شول . جايداد ، عزت –اوه! دده خوار جايداد چيرته و . تر ژوند پهٔ مړګ سبهٔ شو دوه لويشتې خاوره يې ومونده .

دوی يو ځل بيا غلي شول او تر هغو غلي وو چې تر څو کور ته را- ورسيدل ، موټر يې پهٔ ګاراج کښې ودراوهٔ او دواړه د کور پهٔ لوی ورهٔ ور ننوتل . دواړه ستړي او ستومانه ښکاريدل . پهٔ دهليز کښې د پاخهٔ عمر ، بوګ زيری ، ګروپ بابا ورته ولاړ و – هغهٔ ښی لاس پورته کړ او سلام يې واچاوه . خو دوی بې لهٔ څهٔ ځوابه پر مخ ولاړل ، بابا لهٔ شا ورغږ کړ :

– تر اوسه درته پهٔ تمه وم . صاحب ! زوی مې ناجوړه دی . د یوې میاشت تنخوا پیشکي غواړم .بیا ئې د یوې ...

بابا نور چُپ شو .لاسونه یې سره ومومښل او غلي غلي یې دوی ته کتل . ذوی بابا ته دریدلي وو خو چې بابا خبرې بس کړې نو یوه یې صرق ، اوه وکړل او څښنې تیر شو او بل یې وروسته لهٔ دې چې بابا ته څیر څیر وکتل ، ورته وویل :

– یوه ورځ – دوه ورځې – شرم پهٔ کار دی . تر کله به گدایي کوئ . زهٔ خو نهٔ پو هیږم چې لهٔ ځانه مو څهٔ جوړ کړي ؟

او نور دی هم تیر شو ،خو بابا لهٔ شا تر ډیرو ورته کتل ،شاید زړهٔ ته څه ور تیر یدل خو د سر لهٔ ښورولو پرته یې هیڅ ونهٔ کړل او خپله لار یې ونیوله .

دهلیز تش پاته شو اوپهٔ تش دهلیز کښې د کړکۍ پردې لا باد ښورولې ..

د ډسمبر ۲۷ ـ ۱۹۹۰

پیښور

# لنډۍ لېمې

زموږ د کور مزدوره شهناز نومیږي ، دا یوه غلې ، پټ خولې او ساده جینکۍ ده . دا تهٔ نهو کلونو پهٔ عمر به وي . که څهٔ هم مور د دې له مور نه د کار غوښتنه کړې وه خو هغې دا ورسره راوسته او وېې ویل چې دا ډېره تکړه ده . د کور ټول کار دا کوي او علاوتاً هغې خپله د، مجبورۍ هم وړاندې کړه چې دا خپله په دوو درو کورونو کښې کار کوي .

مور د شهناز د مور خبر ومنله ځکه چې زموږ د کور کار لږ و او د شهناز وس به پرې بر شوی و . او دا دی له هغې ورځې راهیسته دا لهٔ مونږ سره کار کوي ، او په ربښتیا هم ښهٔ کار کوي ، او هرکار پهٔ ډېره پاکۍ او چټکۍ سرته رسوي . چې کله یې کار نهٔ وي نو غلې په یوه، کونج کښې ناسته وي او پهٔ خپلو فکرونو کښې ډوبه وي . عموماً د

پښتو په سر ناسته وي . په ځمکه کوښې باسي او پرته له دې چې په چا کار یا غرض ولري په خپله دنیا کښې ورکه وي .

د رومبنۍ میاشت تر پایه ما د دې له « ښه » او « نه » نه پرته چې د پوښتنو په ځواب کښې به یې چاته وکړل ، نور څه وانه وریدل . خو د هغې میاشت په پای کښې یوه ورځ دا راغله او په ډیر عجز یې راته وویل :

- سهار به تنخواه راکړې چې لالا ته یې ورکړم .

د دې دا معصومه لهجه په ما ډیره ښه ولګیده ، مینه مې پرې راغله ، ورته مسک شوم او دا وعده مې ورسره وکړه چې سبا ته به تنخواه ورکړم . دا هم په دې خبره خوشحاله شوه ، ویې خندل او تقریباً په ټوپونو د خپلو کارونو په لور رهي شوه .

سهار تر نور کله لږ د وخته راغله او تر هرڅه له مخه بیا زما مخته ودریده او پرونۍ وعده یې را په زړه ، کړه . ما له وعدې سره سم روپۍ ورکړې او دا لکه د پرون یوځل بیا په تقریباً ټوپونو د باندې ووته ، او پنځه دقیقې وروسته بیرته راغله . د دې ټوله خیره خندا خندا وه . زړه ، یې لکه چې خبرو ته کیده ، ځکه چې وار دواره یې په داسې حال کښې چې سر یې ښوراوه او ته وا له خپلو خبرو یې خوند اخیست راته وویل :

- لالا ته مې ورکړې .

لالا ته د روپیو ورکړه دې ته تر هرڅه مهم او ښه کار معلومیده ، . په هغه ورځ دې کرۍ ورځ په یوه ، نه یوه ، ډول همدا پیسه تکراروله او هر وار یې تر تیرځل هم لا ډیر خوند ترې اخیست . د نورو ورځو پرخلاف یې خبرې هم ډیرې کولې او له ګوشه ګوشه کیدنې یې هم ډډه کوله . او چې په سبا او بله ورځ یې هم حالت همداسې راته ښکاره شو نو دا دې په خبرو هم راغله او له یوې خنډې ته ناستې یې هم ، لاس واخیست .

دوه درې ورځې وروسته له شهناز سره مور راغله . هغه ډېره غصه او قهر وړې وه ، او په داسې حال کښې چې دې ته يې ښپېړې نيولې وې ، دايې ماته راوسته او په غريو نيولي غږ يې راته وويل :

- زه كونډه يم . درې لونړه يوه نزور او هم ځوانيمرګک زوی لرم چې خدای دې ستې وتې کړي . پوډرې دی . په شرمونو يې شرمولې يم . نورځه يې په كور كښې پرېښبودل اوس يې د خور دې دوو روپيو ته بسترګې دي او دا ميراته يې هم هغه ته ورکوي .

د شهناز مور شهناز ته يوه بله ښپېړه وركړه او د ښې لاس په ګوته يې له سترګو را لويدلې اوښكه پاکه کړه . زه ډېر وځورېدم او هغې ته مې په حيرت وويل :

- تروري ! مور په دې نه ووخبر او دې هم داسې نه ووېلي .

هغې شهناز ته برګ برګ وکتل او په داسې حال كښې چې لندې ليمې يې وچولې او په ګونګه ژبه يې داسې پوهولم چې بيا داسې ونه کړم ، له كوره ووته او شهناز يې پرېښوده .

زه شهناز ته په قهرشوم او پوښتنه مې ترې وکړه :

- ورور ته دې ولې روپۍ ورکولې ؟

هغه چُپ وه خو لږه شيبه پس يې خپله مړاوې خيره لږ څه ورښه كړه او په ويار يې وويل :

- هغه زما لالا دی .

ماته چې ډېره غصه هم راغلې وه د دې وياړمنې لهجې ته خندا راغله او زړه مې و چې دې ته څه نصيحت وکړم خو دې بيا وويل :

- هغه زما لالا دی . د نورو نه دی . صرف زه يې خور يم . مور مې يوه انه نه وركوي او خويندې هم او وريندار مې ...

ما نورو خبرو ته پرېښوده او په نرمه مې ورته وویل :

- ګوره لورې ! هغه پوډري دی . هغه ...

شهناز په خوله کښې را ولوېده او ژر ژر يې وویل :

- هغه زما لالا دی . هغه زما ...

شهناز نور څه ونه ویل او شايد د اورېدو توان يې هم نه و . له ما ولاړه او د کور په يوه کونج کښې يې ځان د لوښو په مينځلو بوخت کړ . ما هم نورڅه ورته ونه ویل.په خپل حال مې پرېښوده او ترې رهې شوم . له دې پيښې را وروسته شهناز بوځل بيا غلې او خاموشه شوه . بوځل بيا لکه پخوا د کور په کونجونو کښې کښيناسته او بيا يې سوالونه په هو او نه ځوابول شروع کړل . هغه د څو ورځو خبرې او له خلکو سره ناستې يې هيرې کړې . اوس چې به يې کار نه و نو يواځې به ناسته وه . څونکه چې زمونږ د کور کار ډېر نه و نو دې ته د داسې ناستو او خپلو فکرونو وخت ډېر و .

يوه ورځ د شهناز مور بيا راغله او دا اجازه يې وغوښته چې وروسته له ماسپښينه دې شهناز د حاجي صاحب دوی په کور کښې هم کار کوي ځکه چې زمونږ کار لږ دی دابې تر ماسپښينه خلاصولای شي، او که چيرته زمونږ کار ډېر شو نو بيا دا هم له شهناز سره مرستې ته راځي . ما ورسره ومنله او سر له هغې ورځې شهناز وروسته له دولسو بجو خپل نوي کار ته روانه شوه .

د خپل نوي کار له امله شهناز ته اوس د بې کاره ناستې او سوچونو وخت پاته نه شو . که څه هم دې اوس چرته نه نه وهل خو خبرې يې هم نه کولې . د نوي کار او نوي ځای په هکله تر ډېرو ورځو پورې شهناز هيڅ ونه ویل خو يوه ورځ پرته له دې چې څوک يې وپوښتي، دې له

خودو وویل :

- هلته - په دغه کورکښې یوهلك دی . بالکل زما لالا ...

شهناز نور څه ونه ویل چُپ شوه . لکه چې پښیمانه شوه او په عین حال کښې یې زړه، وغوښتل چې څوك یې وهم نه پوښتي ، ځکه چې یوې څنډې ته شوه ، خو زه ورپسې ورغلم او ومې پوښتله :

- ولې څه شوي ؟

دا اول چُپ شوه او بیا یې ژر ژر وویل :

- هیڅ هیڅ - بس - بس .

- حنیف خو نه یادوې ؟ هغه ژیړ رنګی ، وچکی هلك ، هغه سترګی یې چې تنګې او داسې نوې غوندې دي .

شهناز د مثبت ځواب له پاره سر وښوراوه، او خپله یې هیڅ هم ونه ویل . خو ما بیا وپوښتله :

- هغه دې له لالا سره جوړ دی ؟

دې « نه » وویل او زه پرې پوه شوم چې دا نور څه ویل نه غواړي بنا، ما هم په خپل حال پرېښوده ، دغو څو جملو شهناز بیا په خبرو راوسته او له دې وروسته دې یوځل بیا له ګوشه نشینۍ لاس واخیست . یوه ورځ دې بې له څه مقدمې وویل :

- هغه خو هم زما د لالا غوندې دی . خو دی ژاړي ، ځان ګروي او زما لالا داسې نه کوي هغه خو صرف دوه روپۍ غواړي ، خو زما مور بې نه ورکوي .

دا غلې شوه په معصومه څیره یې د غم اثار را څرګند شول او لږه شیبه پس یې بیا وویل :

- زما لالا زموږ په کور کښې په هیڅا هم نه دی ګران او دا هلك په مور ډیر ګران دی . خو دی هم په یوې کوټې کښې بندې کړي .

شهناز نور څه ونه ویل . په هغه ورځ تر نور کله ژر لهٔ کاره فارغه شوه او وختي د حنیف دوی کورته لاړه - بلکه اوس خو به تل دې دلته کار ژر خلاصاوهٔ او پهٔ دې هڅه کښې به وه چې د حنیف دوی پهٔ کور کښې تر ډیرو پاته شي . دې به اوس تل د حنیف پهٔ هکله خبرې کولې او پهٔ دې ډیره خوشحاله ښکاریده چې د لالا غوندې یې څوك مینډلی دی . دې ته د حنیف لهٔ لیدو وروسته د لالا جرم نیم پهٔ نیمه ښکاریدهٔ او دا سوالونه یې کول چې د دې مور د دې لالا ته ولې قهر کوي . ما څو ځلې دا هڅه وکړه چې شهناز پهٔ دې پوه کړم چې مور یې ګرمه نه ده خو دې ته لالا حق ښکاریدهٔ او ویل به یې چې هغه زما لالا دی . دې ته دا خپلوي تر هرڅهٔ غوره او ښهٔ سکاریده . لهٔ همدغه تکي پرته ، ما د شهناز لهٔ خبرو ، د هغې پهٔ لالا کښې کوم بل داسې کمال نه و مینډلی چې پهٔ دې ګران شي . د دې لالا شاید دې ته هغه یواځینی انسان و چې د هغهٔ پهٔ هکله یې یو تکی هم نشوای اوریدلای . ما هم د دې لهٔ پاره چې د شهنازې زړهٔ بد نه شي نور د دې د لالا پهٔ هکله خبرې نه ورسره کولې . بلکه اوس خو د دې لالا ما بیخي هیر کړی و ، مګر کله چې څو میاشتې وروسته زمور. پهٔ کوڅه کښې حنیف ومړ ، نو ماته د دې لالا را پهٔ زړهٔ شو او وروسته لهٔ ډیره وخته مې لهٔ شهناز نه د لالا پوښتنه وکړه چې هغه څرنګه دی . شهناز غاښونه وچیچل ، چُپ شوه او لږ وروسته یې پهٔ ځنګ زړهٔ ځواب راکړ :

- نه یمه خبره .

شهناز غصّه ښکاریده. پهٔ هغه ورځ یې کار ژر ژر وکړ او ولاړه. زهٔ ډیر حیرانه وم چې شهناز څنګه د لالا پهٔ برخه کښې دومره بې تفاوته ښکاره شوه او پهٔ نهٔ زړهٔ یې ځواب راکړ . پهٔ سبا ما شهناز بیا وپوښتله

او دا هڅه مې وکړه چې دې ته هغه وینا ور په زړه ، کړم چې هغه خو د دې لالا دی . دې په برندو سترګو او پرېکنده لهجه راته وویل :

- ورېندار مې د پلار کورته ترې لاړه ، او ده زما د مور هغه د سرو ګوټۍ پته کړه چې مور مې ماته ساتلې وه .

د شهناز غړغړیو نیولی شو ، د خپل ښي لاس نوکان یې په غاښونو وچیچل او ما یوځل بیا وپوښتله :

- لالا دې اوس چیرته دی ؟

- خدای خبر ؟ چیرته ورك دی . کورته نه راځي . هغه - پوډري .

شهناز نوره چُپ شوه ، پاس یې وکتل لکه چې د مور هغه د سرو ګوټۍ یې په زړه ، ورېده چې د دې له پاره وه - خو دې په خوله هیڅ ونه ویل .

اولې وروسته چې په کار لګیاوه نو ما یې لیمې لندې ولیدې .

۲۲ / ۱ / ۹۱

# څورمه لار

شاوخوا ټول ماینونه دي . د تیښتې لار بس هم دغه یوه ده ، هغه د سیند لار. د سیندڅپې به مونږ ته وي. که تښتېدو نو په هغو ورځې ، خوزه ګورم چې کوم تن به لا پیدا شي . تر څپولو مخه به مو ټتر په سرو مرمیو غلبیل وي خو دا واورئ ! شرافت به مو همدا وي چې وجنګیږئ ، تر ورستیو سلګیو، تر هغه چې تابوت پیدا کړئ اومور پلارمو وروستی دیدن و کولای شي ، تاسو ته یو ځل بیا اخطار در کوم چې د تیښتې تش اقدام هم بې له مرګه تاسې نه پرېږدي ،ځئ خپلو سنګرونو ته لو دا وا ورئ چې همدغه ډبرین سنګرونه مو زیاتي کور هم دی او ژوند هم ... .

ډګرمن نور څه ونه ویل ، خپلې خبرې یې ختمې کړې او نوي را- وستل شوي عسکر سنګر ته رهي شول . فرهاد هم زنګیدلی سر ورو ورو د ورکړل شوي سنګر په لور وخوځید . دده سنګر په طبیعي توګه له

ډېرو جوړ شوی و ، همدغه ځای ددې لوړې تپې وروستی سرو . له دې ځایه نور مخ په ښیته فرهاد دغره ملنې هم لیدلای شوې . ده ته دا لار ډېره اسانه ښکارېده . که یې غوښتلای نو په یوه ساه به د غره تر ملنو کوز شوی و خو د ډګرمن خبرو به یې په غوږو کې انګازه وکړه چې دلته ټول ماینونه ښخ دي ، که څه هم تر هغه ساعته چې تېره میاشت دلته یو عسکرپه دغو ماینونو نه والوتی ، ده د ډګرمن خبرې نه منلې او د هغه خبرې یې یواځې د ویرونې له پاره ګڼلې خو د عسکر له مرګه وروسته چې به یې هر کله ددې لارې په هکله چورت وواهه نو هغه صحنه به ور په زړه شوه او نور به یې ددې لارې په هکله چورت پرېښود .

د فرهاد دادی یوه نیمه میاشت کېده چې عسکرۍ ته یې نیولی او دلته یې راوستی و. ده لا له رومبۍ ورځې د تیښتې لار پسې غوښته او په دې هڅه کښې و چې څنګه به له دې ځایه ځان وباسي . په څو وارې یې و غوښتل چې کوم بل عسکرورسره مل کړي خو دې ویرې چې هسې نه ډګرمن پرې خبر شي ، دده دا غوښتنه تل په ځای پرېښوده .

فرهاد د تیښتې درې نورې لارې هم سنجولې وې ، یوه داچې په جنګ کښې تسلیم شي خو داسې هم ډېر مشکلات وو . ده ته د تیښتې بله لار او د امید یواځینۍ رڼا له پاسه هغو اوبو ته ځان غورځول وو چې ډګرمن به تل یادولې او د خونخوارو څپو له ذکرسره به یې په دوی کښې ویره پیداکوله . فرهاد خپله هم له اوبو ویره لرله . لا په کمکیني کښې دی له اوبو ډار شوی و ، ده چې به کله هم له دې لارې د تیښتې لار سنجوله ، نو دکمکینې هغه ورځې به ور په زړه ، شوې چې د ښار په

واړهٔ نارکي کښې به پهٔ ناولیو اوبو کښې لهٔ همځولیو سره لمبیده او اکثر به خدای لهٔ ډوبیدلو ژغوره ، او بیا به همځولیو تر ډیرو ورځو پسې خندل چې دی لهٔ اوبو ډاریږي . ده ته پهٔ ریښتیا لهٔ اوبو ویره وریپدا شوې وه ، که به یې هرځای اوبه ولیدې نو زړهٔ به یې هسې لړ ودریدهٔ ، او دلته خو دا اوبه هسې هم لهٔ غرو راغلې مستې او تیزې اوبه وې ،چې د ډگرمن پهٔ قول یې خونخوارۍ څپې هم لرلې او کهٔ تر هغه ځایه رسیدلای هم ، نو پهٔ مرمیولهٔ غلبیل شوي تهر سره به ور-رسیدهٔ .

فرهاد ته څلورمه لار ، د غونډۍ لهٔ هغه کونجه توپ وهل وو چې لاندې یې تیرې پرښې وې ، دهٔ څو ځله لهٔ ځان سره همدغه لار مطرح کړه او ډیر یې غوښتل چې لهٔ همدې ځایه توپ کړي خو هغو تیرو او بریښیدونکیو پرښو هر وار مایوسه کړ ، اما ددې هر څه پهٔ سر فرهاد تیښته غوښته . ده ته به هغه صحنې ورپهٔ زړهٔ کیدې چې دده ورور د ښار پهٔ روغتون کښې ساه ورکوله او ډیر خپلوان یې تش د دې لهٔ پاره چې دی پهٔ عسکرۍ کښې لگیدلی ، حتی پوښتنې ته هم نه ورتلل او د هغهٔ د جنازې پهٔ ورځ هم د گوتو پهٔ شمیر خلك ورسره وو چې پهٔ هغوکښې هم د ډیرو لهٔ رنگه فرهاد دا انگیرله چې لهٔ ډیره مجبوریته راغلې دي ، گنې هر چا ته دوی مختورن دي .

فرهاد ته به هغه ورځې تر سترگو سترگوشوې چې پهٔ کوڅه کښې به خوږو ملگرو هم ورته بوک بوک کتل او په مکتب کښې خو ځینو هلکانو حتی سلام هم پرې بندکړی و .

لهٔ دغو فکرونو سره سم فرهاد یو سوړ اسویلی وکړ ، پاس یې اسمان

ته وکتل او ځان ډیر ورته مجبور او لاس ترلی ښکاره شو . خو بیا یې یو دم لاندې وکتل ، د غرهٔ لمن یې وڅارله ، لکه چې څهٔ زړهٔ ته ورتیر شو ، نا څاپه پر ځای ودرید او بیا ورو ورو پهٔ هغه خوا وخوځید ، چې څپاند سیند د خونخوارو څپو لهٔ ویریدونکي تصور سره بهیدهٔ ، فرهاد اوبو ته لهٔ پاسه ډیر وکتل ، ویې غوښتل چې یو ځل بیا لکه د پخوا پهٔ څیر د ملګرو پهٔ خاطر اوبو ته ځان ور وغورځوي خو پهٔ غوزونو کښې یې بیا هغه د کټ کټ خندا انګازې وکړې چې په دهٔ پورې به شوې وې او د بې زړهٔ ، بې همته ، بې غیرته او لهٔ اوبو څخه ویریدونکي اوازونه یې ورسره سم ترغوږو شول . فرهاد بیرته لهٔ دې ځایه پهٔ شا شو ، پهٔ دهٔ خولې را ماتې وې.ستړی او ستومانه ښکاریدهٔ.په مرو مرو ګامونو ورو-ورو هغه کونج ته لاړ چې ورته لاندې تیرو پرښو لکه د برچو هسې ځلا کوله ، او ورته نږدې ښې لاس ته د خونخوارو څپو سین څپې وهلې او یوه نیمه خو به یې حتی همدغو تیرو پرښو ته هم را رسیدله او تیرې پرښې به یې نورې هم ورسره وځلولې . فرهاد یوه شیبه دلته ودرید خو ناڅاپه یوهٔ درانهٔ غږاواز پرې وکړ :

- دغه څه کوې ؟

فرهاد شا ته وکتل ، ټوپ یې کړ ، د ډګرمن پهٔ امرلهٔ پاسه ډزې پرې وشوې ، خو فرهاد د دوی تر ډزو دمخه لا لاندې پهٔ تیزو پروت و . د خونخوارو څپو سیند اوس هم یوه نیمه څپه دلته را رسوله ، خو پهٔ ستنیدوکښې به یې د فرهاد سره وینه هم ورسره کړه او بیرته به ورو ورو پهٔ څپاند سیند کښې ور ګډه شوه .

# لنده غوټه

د معلم سیف الدین پلار « ادا » نن بیا په خپلوکړو پښیمانه و . نه یې په کور کښې ټیکه کېده او نه یې هم بهر سا سمیده ، ووت ننووت ، او کوشش یې کاوه ، چې یوځو ځان عادي وښیې او بل د حل لار وسنجوي .خو دده سور مغ او رپنده سترګو ټول شکمن کړي وو چې یا خو کومه پیښه شوې او یا هم « ادا » ته بیا سودا ور لویدلې ، هغه زړه سوډا چې « ادا » به تل کوله او دوی نور ورسره عادی شوي وو .

له « ادا» که هرچاسوال وکړ، ده سپک کړل او خپله هم هغسې په چورتونو کښې ډوب پاته شو ، ځو ځو واره یې خبرله ځان سره تکرار کړه او بیا یې د راوي په هکله چرت وواهه ، خو خبر ورته سمه ښکاره شوه او هم هغه سړی ، چې نن سهارېې دا پیغام ورته راوړی و ، ده تر ځان هم پردې سړي ډیر اعتبار درلود او همدغه سوب و چې داخبره په سلو کښې سل سمه ورته ښکاریده .

پخوا که څه هم نورو خلکو « ادا » ته تردې هم سپینې خبرې کړې وې خو په هغو ټولو خبرو او دلایلوده ته بس د خو شیبو اندیښنه ور- لویدلې وه او ډیر ژر یې زړه ډاډه شوی و ، خو نن یې زړه دا نه منله

چې درواغ به يې اوريدلي وي . څکه چې نن دې سړي تردې خده ورته ويلي وو چې کيدای شي همدا نن لاراشي . دده ملګرو په سر سترګو ژوندی ليدلی و او همدغه ورروستی تکی و چې « ادا» يې لا ډير وارخطا کړی و. دده ته خپله کړې خطا ترسترګو سترګوکيده او داچې هيڅ به يې لاس ته نه ورتلل ، نو ورځ به يې ووته ، پاس اسمان ته به يې وکتل او هغه ورځې او شيبې به ور په زړه شوې چې ملا صاحب به هم اجازه ورکوله او دی لا دوه زړی و ، او بيا د « ادا » په غوږونو کې هغو خبرو انګازې وکړې چې خلکو ورته کړې وې :

– له طيارو يې ښکته غورځولی .

– روس ته يې بيولی دی .

– ژوندی يې ښخ کړی دی .

– په مرميو يې وويشت .

– تروهلو لاندې مړ شو او ...

« ادا » يوه ګړی د بې ګناهۍ احساس وکړ ، زړه يې کرار شو ، خو چې څرنګه يې د ذهن په پردو کښې نننی پيغام راغی نو يو ځل بيا اور سره واخيست او د بې ګناهۍ ټولې لارې چارې عبث ورته ښکاره شوې .

ده اوس ساعت په ساعت لاړې تيرولې ، په يوه ځای کښې يې سترګې ښخې کړې وې اوويلي يې وو چې کوټې ته دې څوک نه راځي خو دده کشري زوی «رحم الدين» ويل چې« ادا »ليونی شوی دی . دی مور او خور ته ناست و او ويل يې :

– خدای دې وبخښي مړي لا چا ژوندي کړي ، بس خلک دي څه يې پر ې زياتيزي او څه يې پرې کميزي ، وايي به هر څه چې يې زړه وي ، خپله يې خوله او خپل يې اختيار ، « ادا » هسې چټې ماغزه خرابوي ،

مانه خپله د شیرخان زوی وېل چې لهٔ طیارو یې غورځولی ...

درحم الدین خبرې « ادا » پهٔ غصه ور پرې کړې ، « ادا » لکه چې دده، خبرې اوریدلې وې ، لهٔ کوټې دغه دم را ووت او رحم الدین ته یې هم دومره ووېل :

– چپ که د شیر خان زو .

او نور لهٔ دې ځایه هم ووت.« ادا » لهٔ کوره هم دباندې ووت ، د ونو پهٔ لور یې سوکه سوکه ګامونه ور واخیستل او پهٔ ټوله لارې همدا فکر ذکر وکړ چې څرنګه د حل لار پیدا کړي ، دهٔ د حل لار پسې غوښتنه خو پرته لهٔ سرو اسویلیو هیڅ لاس ته ورنه غله ، کوشش یې وکړ چې دځان د سپیناوي لهٔ پاره دلایل و مومي خو لکه د پخوا په شان ورته هر دلیل ډیر ژر بې ګټې او بې ځایه و بریښید ، دهٔ ته بس تیر وخت ور- پهٔ زړهٔ کیده او هغه شیبې یې سترګو ته دریدلې چې رحم الدین ته یې وادهٔ کاوه ، او بیا معلم ورته مجسم شو چې ډیر غصه دی او تر ټولو ډیر بس هم دهٔ ته ، ځکه چې دی یې مجرم دی، دا هرڅهٔ دهٔ کړي او...

« ادا » وریږدیدلو اوبو وارې بیا پاس د اسمان په لور وکتل . پاس هم زیاتې رڼا تته شوې وه او تیارو څادر غوړاوهٔ . « ادا » نا امیده پهٔ زنګیدلیو ګامونو د کور مخه کړه ، پهٔ کور کښې یې وار لهٔ واره پهٔ ناوې سترګې ولګیدې او پهٔ قهر یې چیغې پرې وکړې :

–ورکه شه .

او خپله بیا کوټې ته ننوت ، هلته پهٔ همدې خبره هم پښیمانه و ، خو اوس هرڅهٔ بد ورته ښکاریدل او خپل هر فعل یې بد ګاڼهٔ ، ددې لهٔ پاره چې نور هیڅ وانهٔ وري او هیڅ ونهٔ ګوري څادر یې پر مخ راښکه او سري- مانښام لا څملاست .

« ادا » پهٔ خړه کبنې را ویښ شوی و . لهٔ ځان سره یې څهٔ راواخیستل او پرته لهٔ دې چې چاته څهٔ ووایي یا وګوري لهٔ کوره د باندې ووت ، او د هدیرې پهٔ لور یې مزل شروع کړ . نن یې د پخوا پر خلاف ډیر ګړندي ګامونه اخیستل ، ادا په لاره کبنې لاندې کتل او داسې ښکاریده، چې ډیره بیړه یې وي خو یوه مسافر ودراوه، او پوښتنه یې ترې وکړه :

– بابا ته د کوم ځای یې ؟

« ادا » پاس ورته وکتل ، مسافر ځلور څلوېکی ، وچ کلک زلمی و ، ده، یې سترګو ته کتل او پهٔ کتو کتو یې د سر پهٔ اشارې شا ته پرې- ایښې کلی ور وښود ، خو لهٔ دې اشارې سره د « ادا » مخ سور سره واوښت ، ژبه یې وچه شوه او وارخطا غونډې شو .مساپر وخندل ، سر یې وښوراوه، او ویې ویل :

– عجیبه ده ، اوس د کلي خلک هم نه پیژنم ، حال دا چې ټول کور کهول مې اوس هم را ته هم‌دلته پهٔ ټمه دي ، خو آخر لس کاله وروسته راځم ، بابا ته مې ونه پیژندې ، زه خو معلم‌سیف الدین یم .

معلم سیف الدین پهٔ ټټو لاس ایښی و ، چې ځان ور وپیژني ، خو «ادا » نیغ نیغ ورته کتل ، غلی ولاړ و ، سترګې یې د معلم پهٔ نوم غمجنې شوې خو ژر یې سر ټیټ کړ او پرته له دې چې څهٔ ورته ووایي، بیا یې خپل مزل شروع کړ . معلم مخ پسې ور واړاوه، او د بابا – بابا ناري یې یو دوه ځله پسې وکړې ، خو ادا ونه درید . معلم پهٔ حیرت سروښوراوه، لکه چې د کلي وال بابا رویه ښه نهٔ شوه ورته ښکاره ، خو ویې خندل او د کور پهٔ خوا رهي شو .

اپریل – ۱۹۹۱

# زدغوني ترخې

یو ګڼ شمیر خلك د جنازې له پاره را غونډ شوي وو . تر لرې لرې کلیو خلك خبر شوي وو او چې چا هم دده د شهادت اوریدلي وو ځان یې ورته را رسولی و. جنازې ته لا څه وخت و ، خلك غوټه غوټه په یوه او بل کونج کښې چرته ولاړ او چرته ناست په ټمه ووچې مړی به له کوره را ـ ایستل کیږي . د خلکو په هره غوټه او مجلس کښې د شهید زلمي په هکله خبرې کیدې . هر چا دهغه د ښکلا ، د هغه د ځوانۍ او د هغه د کړو وړو په برخه کښې خبرې کولې . یو ځای یوه سپین ږیري وویل :

- ډیربختور شهید دی . په ځوانۍ شهید شو.

ورسره څنګ ته ولاړ د جومات ملا امام هم غاړې تازه کړې او د شهید زلمي د شهادت په هکله یې خبرې وکړې . هلته په یوه بله ډله کښې چا وویل :

- ډیر ښکلی و ، سپین مخ ، غټې غټې سترګې ، تور ګڼ ویښته او

لوړه دنګه ونه .

ورسره ولاړ یو تن په زیږه لاس راتیر کړ او زیاته یې کړه :

– ډیر ښکلی دنیا ته راغلو‌اولاړو.دادخدای غوښتنه ده.انسان پکښې عاجز دی .

او له دوی نه هم لرې په یوه غوټه کښې ځوانان سره را پنډ وو،په هغوی کښې یوه وویل :

– د واده یې دوه درې میاشتې کیدې – ډیره ښکلې ښځه‌یې وه.وایې په کلي کښې یې جوړه نشته .

څنګ لوري یې چې په بریتونو لاس واهه‌ورو غوندې وویل :

– اوریدلي مې ووچې سره خوښ کړي یې وو .

او له دوی نه هم ور پورته په یوې بلې ډلې کښې یوه تن په ویاړلي غږ وویل چې دده ملګری و او ډیر وختونه یې سره یو ځای تیر کړي .

په همدې وخت کښې د ښځمنو له چیغو سره یو ځای د شهید زلمي جنازه له کوره را وایستل شوه . خلك سره را ټول شول او په جنازې پسې ورو ورو خلکو ګامونه ور پورته کړل . خو د ښځمنو چیغې سورې لا تر اوسه راتلې ، حتی دوی له کلي هم لږ لرې شو خو د هغوی چیغې لا تر اوسه تر دوی را رسیدلې ، او لږ وروسته خو دا چیغې بیخي ډیرې را نږدې شوې.ډیرو خلکو شا ته وکتل او ویې لیدل چې یوه ښځه‌یوه ځوانه ښځه ویبلې پښې په چیغو او سورو ددوی په لور منډې وهي . د هغې په سپینو پښو دوړې پرتې دي او د هغې په سپینو بارخو ګانو چې د اوښکو څاڅکي را بهیږي،په هغوی هم د جنازې د خلکو له ګامونو نه را لټیدلې دوړې پرتې دي او د هغې په سپین مخ یې داسې

تورووالی را پیدا کړی لکه په سپینه واوره چې چرته ځاوره لویدلې وي .
په جنازه کښې له شریکو کسانو چا وویل :
- دا یې سنځه وه .

او له دې خبرې سره د هغو خلکو مخونه هم ور واوړیدل چې لا تر اوسه یې نه وورته کتلې . ځینو ډیر بړک بړک ورته کتل خو هغې یواځې او یواځې د جنازې په لور کتل ، چیغې یې وهلې او د چا نظرونه یې نه ځارل ، خو د خلکو په منځ کښې پوسټې ورو ورو را-زیات شو او یوه خو حتی لږ په زوره وویل :
- څه ته ژاړې ، څه یې غم دی ؟ ځوانه ده.د عدت تر پوره کیدو له مخه به بل واده وکړي .
او یوه پکښې لږ ورو غونډې وویل :
- ځان سپیي !

هغه په ځای ودریده ، غلې شوه.لکه چې ټول ویر او ماتم یې هیر کړی او بس کړی وي . بیرته په شا شوه او له جنازې ډیره لرې خپل کور او کلي ته را ستنه شوه . له همدې ورځې را وروسته بیا چادا په ژړا ونه-لیده ، غلې به ناسته وه او له خپل کار سره به یې کارو .

له هغې پیښې اوس څلور میاشتې تیرې شوې وې . نن بیا دلته په همدې کلي کښې خلك را ټول شوي وو ،بیا یوه جنازه تیاریدله،خو د خلکو په ډلو کښې نن یوه نوې موضوع مطرح وه .نږدې په ټولو غونډو او ډلو کښې خلکو همدا سوالونه کول چې :
- ایا ددې جنازه کیږي ؟
او په یوې څنډې کښې چې ځوانان را پنډ وو،یوه تن وویل :

- ولې نهٔ کيږي ، دې وفا کړې بې وفا نه وه. ترخپل مينه يې ځان ورساوه او دبل چا ....

ددهٔ خبرې هغه وخت پهٔ خوله کښې وچې شوې چې کله ددوی ډلې ته يو تن نوی را ګډ شو او ويې ويل :

- آيا ددې جنازه کيږي ؟

او دا سوال لا تر اوسه تکراريږي ، هر ځای خلک همدا سوال کوي حتی تر ننه چې د شهيد زلمي له قبر سره څنګ ته ددې پهٔ خاک هم ترخې رازرغونې شوې ، او هغه څوک چې ددې سوال مثبت ځواب ورکوي اوس دا وايي چې دا زرغونې ترخې د وفا نخښې دي .

د مې ۲۷ - ۱۹۹۲ -

# تړلې سترګې پټه خوله

تیر کال په دغه شپه ما هغه لیدلې وه بلکه هغې زه لیدلی وم ، زما لا ورته پام نه و، هغې را ته کتل او خندل خو شونډې یې سره ورغلي وې،غاښونه یې نه ښکاریدل.د هغې خنداځه بل ډول وه ، دهغې ټول مخ خندنی و ، د هغې سترګې په خندا وې او چې کله زما سترګي ورواوښتې نو خندنۍ سترګې یې ټيټې شوې ، مخ یې لږ سور شو او نه پوهیږم ولې زما زړه هم لږ لږ ودربیده . لاس مې بې اختیاره پاس تندي ته یوور. په تندي مې مړې خولې را ماتې وې اوزه هم لکه د هغې وشرمیدم.ښکته مې وکتل خو دې بیاپاس را ته وکتل.دا ځل یې په کټ-کټ وخندل . غاښونه یې ښکاره شول او د دوونریو شونډو پیره یې ماته شوه،خو دې منډې کړې او غایبه شوه . زه تر ډیرو هلته ودریدم.په ټمه یې وم خو هغه رانغله.ما هم هغه ځای پریښود،خو یو عجیبه حالت و،زه په ځان نه پوهیدم.زه خوشحاله هم وم او یو ډول مغموم هم. داسې مې

انګیرله لکه څه چې مې له میندلو سره سم له لاسه ورکړي وي. هیڅ ته مې زړه نه کیده. خواږه ښناك، حتی خوب مې هم ورك شوخو زه بیا هم لکه چې خفه نه وم. ځان بختور را ته اینسیده. البته په دې ډیر خوابدی وم چې په تصور کښې مې د هغې تصویر نه شوای جوړولی. اصلاً هغه ما پوره لیدلې نه وه او که مې لیدلې هم وه نو پرې پوی شوی نه وم. ذهن ته مې نه وه سپارلې اویا شاید د هغې خندنې مخ زما سترګې پټې کړې وې او د هغې پوره جوسه یې نه وه را ښودلې . په سبا او بله شپه هم ما هغه صحیح نه کړه. که څه هم ما دا ولیدله ، دې بیا زه ولیدلم، خو نه پوهیږم ولې ما هغې ته نه شوای کتلای ، لاکن وروسته دې دا جرأت راکړ، دې وهڅولم چې ورنږدې شم ، ویې ګورم، حس یې کړم او د ذهن پردو ته یې د تل له پاره وسپارم. هغه ډیره ښکلې وه ، د هغې ټول جند داسې برخه نه لرله چې چا ګوته ورته نیولی وای او یا شاید ما ته داسې ښکاریده. شاید د هغې هر عیب هم را ته ښه ښکاریده ، هغې لکه چې په سترګو پټې را ټولې وې او یا شاید زما زړه داسې کړې وو. زه تر دې له مخه کله له داسې حالت سره نه وم مخ شوی . ما تر دې له مخه کومه ښځمنه ځان ته دومره نږدې نه وه لیدلې. کومې یوې له ما سره مینه نه وه کړې ، خندلې یې را ته نه وو، بلکه داسې کړه خودلته ګناه وه، ځکه خو د هغې مینې جرأت او جند زه دومره متأثره کړی وم. ما به غوښتل چې څلرویشت ساعته له هغې سره ناست وای ، هغې را ته کتلی ، ما ورته کتلی اوبس دغه وخت همداسې تیریدلی. هغې زه ډیر زر ور کړم. په اوله کښې ما ورته کتلی نه شوای اما اوس به یې لاسونه هم زما په لاسونو کښې وو اووچې شونډې به مې هم کله کله لندې کړې اوچې کله

به داسي حالت راغی نو په ځان به نه پوهیدم . ریږدیدم به خولي به را-
باندي ماتي وي خو دي به خندل او ددي دغه خندا به زه داړه کړم .

مور خو میاشتي هره شپه سره ولیدل او هره ورځ د یو بل تصور را-
سره مل و. اوس مو ډیري خبري هم سره کولي. وعدي به مو وکړي اود راتلونکي وخت له پاره مو کړن لاري سره سنجولي او یوه شپه مو د واده هم وویل . د ي پرته له ما او ما پرته له دي د بل چا تصور هم رد کړ او ما دا وعده وکړه چي په لنډ وخت کي به ددوی کور ته جرګه ورلیږم او بیا هغه ورځ هم راغله چي ددوی کور ته جرګه ورغله او دایي زما په نامه کړه او ډیر ژر مو واده هم وکړ او دا زما میرمن شوه . زما کور ته راغله او شپه ورځ زما په مخ کښي وه خوچي څو وخته تیر شو دا بدله بدله را ته ښکاره شوه. ددي خندا مصنوعی راته وایسیده ددي په مخ او جند کښي عیبونه را ته ښکاره شول او زما په سترګو کښي شکونه هغي ته څرګند شول خو هغي به را ته خندل اوما ته د هغي دغه خندا بل ډول ښکاریده. لکه چي څوك غولوي او یا هم څه پټول غواړي . خو زما ټهروري غږ لږ په خود کړه او دا هم غوصه شوه او له هغي ورځي دادی تر ننه دا هم را ته په ټهر وي. داهم لکه چي زما په هکله وړ وړفکرونه کوي .لکه چي زه هم دي ته اوس بل ډول ښکارم . زما هم عیبونه ورته څرګند شوي خو ددي هر څه په سر مور دواړه ترلي یو . هیڅ نه شو کولی. که مو هر څو بد سره راځي خو بیا هم په یوه خونه کښي پراته یوو. یو کټ مو دی . څنګ په څنګ ویده یو . خو اصلاً زمونږ په منځ کښي ډیره فاصله ده . تیر کال که څه هم مور له لږ فاصلي سره لیدلي وو خو له لیدو وروسته ما داسي انګیرله لکه چي ډیر سره نژدي وو خو

پوره یو کال وروسته دا دی په هغه نیټه که څه هم سره نږدې پراته یووخو داسې را ته ښکاري چې ډیر لرې یو. څو میاشتې مخته دغه نیټه ما ته د ژوند تر ټولو نیکمرغه ورځ ښکاریده خو اوس همدغه نیټه د ژوند تر ټولو بدمرغه نیټه را ته ښکاري . ډیر ورته غصه یم او هم دغه غصه وه چې بالاخره یې مجبوره کړم چې دا وپوښتم. له دې سره د مرور-توب په سر هم خبرې وکړم. دې شا را اړولې وه . غوښن لاسونه یې په ورنو اچولې وو او په کټ کښې په اړخ غزیدلې وه . زه په کټ کښې نیغ کښیناستم. نه پوهیدم څرنګه له دې پوښتنه وکړم، خو لږ وروسته مې ناڅاپي د هغې لاس را کش کړ او دهغې مخ مې د ځان پلو را-واړاوه. ځغې را ته وکتل ما هم نیغ نیغ ورته کتل . لکه چې ددې زړه ته څه خبر ورتیره شوه او لږ تموسك انداز چې مطلب یې پر ما پورې د ملنډو وه راته ویې ویل، آخر مجبوره شوې صبر مې ختم شو. زما غصه نوره هم زیاته شوه او په داسې حال کښې چې ددې لاس مې پورې واهه ورته ومې ویل :

-څوك ستا غونډې ښځو ته مجبوریدای نه شي . شاید په هر ګام داسې ښځې پرتې وي .

دې وویل :

- ستا مطلب څه دی. ته ولې داسې شوې ؟ ما ډیر وغوښتل چې څه ورته ووایم، خو خدای خبر ولې ما څه ورته ونه ویل ، یوازې مې له ځان سره له دې دا سوال کاوه، چې تر ما له مخه به دې څوك ؟ خو دا سوال حتی زما زړه هم نه شوای کولی، خو زما طبیعت ورځ په ورځ خپیږي او زموږ ژوند ډیر تریخ دی .

اګست - ۱۹۹۲

# زنده باد

پهٔ رومبي ځل چې ما حیات لالالیدلی و نو د غوږونو د سر ویښتهٔ یې سپین شوي وو . بریتونه یې هم بړک غونډې وو او دغه د پنځه-ځلویښتو کلونو په عمر به و ، هغه مهال دهٔ زموږ د کوبر لاندې نوی نوی یو دوکان نیولی و او څو شاګردان یې لرل . دهٔ به څپلی جوړولې او د جهانګیر پورې پهٔ بازار کښې به یې پهٔ دوکاندارانو پلورلې . پهٔ هغو ورځو کښې یې کاروبار ښهٔ و ، او بلکه ورځ پهٔ ورځ مخ پهٔ ښهٔ کیدو و. پهٔ اوله کښې لهٔ یوهٔ بل استاده پرته درې شاګردان ور سره وو

خو وروسته یې دوه استادان او اته کسه شاګردان ونیول او چې پهٔ دوکان کښې یې ځای تنګ شو نو د دوکان لهٔ غولې یې دوه متره پورته د لرګیو یوه چوتره جوړه کړه او یو تن استاد یې لهٔ شاګردانو سره پاس وخیژول .

زهٔ پهٔ هغو ورځوکښې بیکاره وم ، او هم دغه علت و چې د ورځې

به مي څو ساعته د حیات لالا په دوکان تیرول او له هغه سره مې پخه یاري وه .

حیات لالادې روان کار وبار په سر هم له خپله ژونده مطمین نه و . تل به یې له موچې توب نه سر ټکاوه، او دغه کسب یې سپیره ګانه، ویل به یې د چا به یوه پکښې دوه نه شي ، او سترې هلاک به لابیل یې.

حیات لا لا ته خدای وروسته له څو لونړو یو زوی ورکړی و ، چې ده، پرې « بخت روان » نوم ایښی و . د حیات لالا ټول ذکر فکر د بخت ـ روان په هکله و . ده، بخت روان ته ډیره تمه لرله او دا به یې ویل چې :

– بخت روان به لوی افسر جوړیږي ، په یوه لویه کمره کښې به د یوه، لوی میز شا ته یوازې ناست وي او میاشت په میاشت به په زرګونو روپۍ تنخواه اخلي .

اوچې حیات لالا به کله د بخت روان د آینده په هکله خپل دغه فکرونه او خوبونه ما ته تیرول نو ریندۍ به یې په یوه لاس کښې ونیوله هغه درنه تیزه چې ده، به پرې څرمن ایښې وه او ده، ته به یې د میز کار ورکاوه، ، لږ په مخ پورې وهله ، په ډیر طامع او خوشبینانه نظر به یې را ته وکتل او په سترګو سترګو کښې به یې دا سوال را څخه وکړ چې همداسې به کیږي کنه ؟ او ما به دده، له پاره سر وښوراوه، او داسې به مې ظاهره کړه چې بلکل همداسې به وي . حیات لالا به زما په اشاره او طرز پوی شو او ډیر به پرې خوشحاله شو او له ډیرې خوښۍ به یې شاګرد ته پنځه روپۍ ورکړې چې له چایو سره څه خوازه هم د خوړلو له پاره راوړي ، شاګردانو به د استاد په دې فراخ دلۍ یودم د « استاد زنده باد »ناري کړې او حیات لالا به د هغوی له دې نارې ډیر خوند

واخیست او لږ وروسته به یې د کار کاڼی بیا ورنږدې کړ او په کار به لګیا شو .

بخت روان په هغو ورځو کښې د شپږو کلونو و . په اول ټولګي کښې یې سبق وایه او له ښوونځي نیغ دوکان ته راته او تر ماښامه به دلته و ، ماښام مهال به له پلار سره کور ته رهي شو . ددوی کور په هزار خوانۍ کښې و ، سهارد وخته به حیات لالا په خپل زاړه سیکل بخت روان را په مخه کړی و . ماڅو ځله حیات لالا ته وویل چې بخت- روان دوکان ته ولې راولي ، پریږده چې له نورو هلکانو سره کور ته لاړ شي ، هلته به سبق ووايي ، خو ده به ویل :

– نه ، ماشوم د پلار تر نظر لاندې پکار دی ، هلته په کور کښې څوك دي چې دی منع کړي ، که سبق وايي نو دلته یې هم ویلی شي .

خو ماچې کتل نو بخت روان دلته دسبق په ځای ډیر شوق د څپلیو له جوړولو سره لاره . تل به یې د پلار افزار په لاس کښې وو او د پلار له شاګردانو په یې یو نیم چل زده کاوه . زه تر دوو کلونو پورې هلته وم ، وروسته له دووکلونومې د کار روزګار له پاره د کراچۍ مخه وکړه او نږدې څلور کاله مې هورې تیر کړل ، چې راغلم نو د حیات لالا په دوکان کښې یوه پنجابی د سموسو کار و بار کاوه او دهغه پته نه لګیده ، خو له ښه مرغه یوه ورځ ما حیات لالا د جهانګیرپورې په بازار کښې سهي کړ ، هغه په خپل زوړ بایسکل سپور و او شاته یې یوه غټه ټوکرۍ له څپلیوډکه راوړې وه چې دلته یې وپلورې . حیات- لالا اوس تر پخوا ډیر زوړ شوی و ، سر یې تر نیمایي ډیر سپین و او اوږې یې لوېدلې وې . اوس هم له کارو باره شاکي و او ویل یې چې

دوکان يې پرې ايښي او په کور کښې په يواځې سر څپلې جوړوي ځکه
چې پيسه نشته اوکار وبار هم هغه زړه مزه نه لري .
په هغه ورځ مونږ په يوه ريستورانت کښې کښيناستو ، چاى مو راـ
وغوښت او تر ډيرو پورې مو خبرې سره وکړې ، هغه ډير ذله او مايوس
را ته ښکاريده ، له خبرو يې دومره پوى شوم چې بل زوى نه لري، يو
بخت روان دى چې هم سبق وايي او هم له ده سره کار کوي .زه په دې
حيران وم چې کاروبار يې ولې نه دى ښه ؟ ما ورته وويل چې د
څپليودوکانونه خو ورځ په ورځ زياتيږي او ته وايې چې مزه يې نشته ،
ده په داسې حال کښې چې خپل نوکان يې په غاښ پرې کول را ته
وويل :
- يره بابو ! دا هر څه د پيسې خبره ده ، اوس اپر مين ( هغه سړى چې
د څپلې پاسنى برخه جوړوي ) هغه پخوانى اپرمين نه دى ، لس اته زره
روپۍ به ورکوې چې در سره کار ته کښيني ، پالشي په جوړه دوه درې
روپۍ په نخرواخلي ، شاگردان د هفتې په پنځه شپږ شلې روپۍ خبر نه
کوي او چې دا خرمن ، شلوشن او نور لوى واړه څيزونه حسابوې نو غټه
روپۍ لگيږي ، او زه خوار خو دا دومره خرچې چيرته برداشت کولى شم؟
دغه لس دولس جوړې چې په درې څلور ورځو کښې تيارې کړم نو
ډيره ده ، بچي له لوږې نه مري خو ... يره بابو بخت روان چې افسر
شي نو دا هر څه دې سر وخوري بس چې ښه غټه کرسۍ ورته ايښې وي
او ښه په نشه اوسر کښې ورته ناست وي ، خوري څکي او حساب يې نه
وي ، خلك ورته وايي بخت روان افسر زنده باد ، نو هله به مې دا زاړه
هډونه په قلار شي .

په هغه ورځ زه او حیات لالا تر ډیرو کښیناستو ، دی د بخت روان راتلونکي بخت ته منتظر و او دا اوسني حالت ته یې ځوښني نه ښرګندوله او زه ورته هلته هم هغسې شین ناست وم لکه ښو کاله مخته چې به یې په دوکان کښې ورسره ناست وم .

زه په هغه ځل د یوې میاشتې له پاره پیښور ته راغلی وم ، په دې یوه میاشت کښې ما څو ځله حیات لالا او د هغه زوی بخت روان ولیدل او چې تلمه نو یو جوړ پنجه داره څپلۍ مې هم ترې واخیستې او بیا چې اوس دادی څو کاله وروسته پیښور ته راغلم نو د حیات لالا پته را ـ ښخه هیره شوې وه ، د هغه کور په هزار خوانۍ کښې و خو د څو کاله پخوا هزار خوانۍ او اوسنی هزار خوانۍ ډیره مختلفه وه . ډیر نوي کورونه پکښې جوړ وو او د حیات لالا زوړ خټن کور په دوربین کښې هم نه ښکاریده . یو دوه ځله ورغلم خو چې پیدا مې نه کړ نو مایوسه شوم او لټون مې یې پریښود . اصلاً ما د حیات لالا تر لیدو هم د هغه د لاس څپلیو ته ډیرزړه کیده ، هغه به ښې څپلۍ جوړولې او چې یار دوست ته به یې جوړې کړې نو هغه خو به یې بیا ډیرې ښې جوړولې.

د حیات لالا سره ډیرې ناستې یوه ګټه دا را رسولې وه چې څپلۍ مې پیژندلې ، په ښو بدو څپلیو پوهیدم چې څه ښه والی او څه بدي لري ، کله چې د حیات لالا له کوره مایوسه شوم نو د جهانګیر پورې مخه مې وکړه ، دوکان په دوکان را وګرځیدم چې ښې څپلۍ پیدا کړم .

زه لا په څپلیو پسې ګرځیدم چې یو ځوانکی مې مخې ته ودریده، نرې بریتونه یې پرې ایښي وو ، یو زوړ بایسکل ور سره و او د بایسکل شاته یې لکه د حیات لالا له څپلیو ډکه ټوکرۍ تړلې وه ، هغه

سلام را واچاوه، او ويې ويل :

- بابو ! زه بخت روان يم ، د حيات لالا زوی .

بخت روان زلمی شوی و ، د سايکل شاته ترلې ترکرۍ يې حيات لالا را په زړه کړ. د هغه هوسونه او ارمانونه مې تر سترګو شول او بې له دې چې بل څه ووايم وار د واره مې د حيات لالا پوښتنه وکړه ، دده را- ته وويل چې هغه مړ شوی ، زه د هغه په مرګ سخت خواشينی شوم خو بخت روان په يوه ساه کيسه را ته کوله :

- داجي مړ شو ، ما سبق پريښود ، اوس زه خپله کيږدۍ ( څپلۍ ) سازولی شم ، دا دي بابو صيب دا کيږۍ زما دي ، ويې ګوره ، څنګه دي ، هنه ؟

خدای خبر په څه فکر کښې وم ، دده سوال په خود کړم او بې فکره مې ورته وويل :

- هو ډيرښه ، ډير ښه ، ما شاالله ، زنده باد ! ؟

ډسمبر ٤ / ١٩٩٢

پيښور

# پور

زموږ د کارخانې مالکه په ماله هغې ورځې لا مهربانه وه چې په ړومبي ځل ورته راغلی وم او د کار غوښتنه مې ترې کړې وه . په هغه ورځ دې ما ته ډیر په ځیر ځیر او په عین حال کښې یوځه په مینه کتل او زه یې زما د توقعاتو په خلاف بې له څه پوښتنواو ځنیودفترې او کاغذي ضرورتونو په کار وګمارلم او بیا یې دادی تر ننه تل په ما پام کړی دی او زما یې له نورو کارګرو څخه توپیر هم کړی دی. زه ددې له دغې لورینې ډیر خوښ او په ریښتیا سره له زړه ورته کار کوم خو دا زما کار ته نه هوسیږي اونه یې هم غم کوي بلکې تل دا را ته وایي چې پام کوه ډیر زیار مه باسه تر خپل وسه کار کوه . زه ددې دغو خبرو ته ډیر حیرانیږم چې ولې په ما دومره مهربانه ده ، البته زړه داسې را ته وایي چې شاید زما رنګ یا کوم خوی ددې کوم خپل ته ورته وي یا داچې زه نسبت نوروکارګرو ته ځوان، تعلیمیافته او په رنګ هم یو څه

ښهٔ یم خو دا زما د زړهٔ انګیرنې دي ،لهٔ حقیقت نه خو معلومه ده چې یو خدای خبر دی .

دې یو دوه ځلې خپل کور ته هم وروغوښتلم او لکه د یو درانهٔ میلمه یې زما قدر وکړ، کهٔ څهٔ هم ډیرې خبرې یې هلته را سره نهٔ کولې پوازې به یې را ته کتل او یو ډول موسکه به شوه او زهٔ به چون په تاثیر کښې راغلی وم ، نو لاندې به مې کتل خولې به را باندې ماتې وې او شرمیدم به .

دې دخو ورځو پهٔ اوږدو کښې بالاخره دومره ورنږدې کړم چې نورزهٔ هم ورسره عادت شوم.بې لهٔ څهٔ شرم او وارخطایي به اوس ددې دفتر ته او حتی کله کله کورته ورتلم ، د کور یو نیم وړوکی کار لکه د بانك نه روپۍ اخیستل یا لویه وړه سودا هم ما ورته کوله . د کورغړي یې لهٔ ماسره بلدشول،خود هغې دوه لوڼې اویو تربوردې ډیر را وپیژندل او اکثراً به یې دا هڅه کوله چې زهٔ اودغه درې سره ووینو، یو بل سره وپیژنو او شناخته شو. ددې پهٔ دې کار زهٔ نه پوهیدم چې آخر ولې دې زهٔ دا دوه جینکۍ او ددې ځلوېښت پنځه ځلوېښت کلن تربور وپیژنم.د جینکو پهٔ هکله خو به کله کله عجیبه فکرونه را لویدل،خو ذهن مې لا دومره کار کاوهٔ چې زړهٔ لهٔ بې ځایه او بې وخته خوبونو را ویښ کړي ، البته دتربور پهٔ باره کښې هیڅ نه پوهیدم.حتی زما خوب لیدونکي زړهٔ هم د هغه پهٔ هکله کوم خوب نه شو لیدلی او کوم تصور یې نهٔ کاوهٔ اویا شایدما ته مهمه نه وه ځکه مې سر نه پرې خوږاوهٔ . ما بس د کارخانې مالکه مهمه ګڼله اوکله کله هم دهغې دوه پیغلې ګڼونه .

دکارخانې مالکه لهٔ تیرو څو کلونو را پهٔ دې خوا کونډه وه،خو شاید

پهٔ کونډ تون به دومره نه وه خواشینی لکه څومره چې د خپل ځوانکي زوی پهٔ مرګ خوابدي وه . ددې همدا یو زوی و چې پهٔ پنځلس کلنۍ کښې مړشوی و او سخته خو په دې وه چې دې د ډیرو روپو پهٔ سر هم د هغه علاج نه شوای کولی . هغه پهٔ لا علاجه رنځ اخته و . ما نهٔ هغه هلك لیدلی و او نهٔ یې لهٔ رنځونو خبر یم . دا دومره هم چې خبر یم دا د کار خانې د مالکې لهٔ ځینو خبرو پوی شوی یم . دا کله ناکله ډیره عجیبه او مرموزه شي او چې کله داسې وي نو پهٔ داسې وخت کښې دا خپل مړ زوی ډیر یادوي . پهٔ اولو وختونو کښې به زهٔ خفه وم او یو نیم وخت به مې ورته د خفګان لهٔ پاره تش « تیت تیت» کول خو بیا وروسته چې ورسره بلد شوم نو د ډاډ او حوصلې خبرې به مې ورته کولې او تل مې داهڅه کوله چې دا پهٔ دې تسلي کړم چې دوه لوڼې لري او ماشاالله دا لوڼه یې هم تر زامنو کمې نهٔ دي ، خو دې لهٔ اسویلو پرته ما ته څهٔ نهٔ ویل او عموماً به یې زما دغه خبرې تر سر تیرولې .

د کارخانې مالکه کهٔ څهٔ هم نور خپل خپلوان هم لري خو ډیر سروکار یې لهٔ همهغه تربور سره وي چې زهٔ یې هم پیژنم، بلکه هغه چې ما ته را ـ پیژندل شوی.د هغه دې ته ډیر راتګ پهٔ خلکو کښې ور ور شکونه پیدا ـ کړي خو زهٔ ددې پهٔ هکله بې ځایه شك نه شم کولی.ځکه چې دا ډیره شریفه او درنه ښځه را ته ښکاري او هغه هم دومره پریوتی نهٔ ورا ته ښکاره چې د خلکو پهٔ شکونو باوري شم.هغه یو دروند سپیځلی سړی را ته ښکاري .د هغهٔ د کور پهٔ برخه کښې زهٔ بلکل نا خبره یم.زه بس یو دی ګورم.د کار خانې مالکه هم یوازې لهٔ ده سره ګوري .دده، لهٔ کورنۍ سره یې لکه چې جوړه نهٔ ده ، ځکه چې هیڅکله یې هم د هغوی

پوښتنه نهٔ ده کړې او چې کله دې پهٔ تیلفون لهٔ څهٔ خبروې او دده، دکور څوك غوږی پورته کړي نو دا سمدستي تیلفون بندکړي او یو ډول خواشیني شي . ځینیوختونه خو حتی تلیفون په ما ورته کوي. صرف ددې لهٔ پاره چې د هغه د کور کوم غړی تیلفون ور پورته نهٔ کړي. زهٔ ددوی لهٔ دې خپل منځي اختلافونو خبر نه یم او نه مې هم کله غوښتي چې پرې خبر شم. ځکه چې دا خو نو بیخي ددې کورنۍ خبره ده .

کهٔ څهٔ هم پهٔ دې وروستو ورځو کښې مې زړهٔ څو واره وغوښتل چې لهٔ دې پوښتنه وکړم ځکه چې دایې اوس هم پهٔ ښکاره غیبت کوي او بد پسې وایي خو بیا هم جرأت نه شم کولی .

لهٔ تیرو دوو ورځو را پهٔ دې خوا دا ډیره مضطربه وه ، خو څهٔ یې پهٔ خولهٔ نهٔ ویل، لاکن نن چې زهٔ څرنګه پهٔ دفتر ورننوتم نو دی راته وویل چې ډیره خواشیني ده او چې ما ترې د علت پوښتنه وکړه نو دې کور ته ور وبللم، او د مازدیګر څلور بجې وخت یې راکړ . دا دی اوس پهٔ هم دغه اړوند ددې پهٔ کور کښې ناست یم .کهٔ څهٔ هم پنځه بجې شوې خو دا لا نه ده راغلې خو یو مزدور یې وویل چې لږ وروسته به راځي. هو ښه شوه دا راغله خو عجیبه ده . دې نن کړکۍ وتړلې، پردې یې پرې راکښلې او ور یې هم قلف کړ او دادی ما ته نږدې کښیناسته او وایي ما لهٔ تا سره ښهٔ کړي او اوس لهٔ تا نه هم د ښو ټمه لرم . زهٔ پهٔ تا اعتبار کوم ته هم باید زما د اعتبار پاس وساتې او زمابلکه زموږ لهٔ دغو خبرو چې هیڅوك هم خبر نهٔ شي . دا وعده به را سره کوې. وعده ده؟هو،هو! ښه نو یو کار درسپارم،نور دې خوښه چې څرنګه یې کوې خپله یې کوې کهٔ پهٔ بل چا یې کوې. زهٔ روپۍ درکوم هر څومره چې پهٔ کار وي اما یو ځل

بیا درته وایم چې څوك خبر نهٔ شي او داکار پټ پهٔ پټه باید سر ته ورسیږي . کار دادی چې د یوهٔ موټر د سیټ لاندې به بم ږدې او زهٔ چې څوك درته ښایم باید هغه پکښې لهٔ منځه لاړ شي ، البته دا کار باید تر درو ورځو پورې حتماً سر ته ورسیږي . وروسته نو بیا بې ځایه دي.پهٔ ما خولې راغلې ، زهٔ څهٔ اورم!پهٔ خپلو غوږونو مې اعتبار نشته.د کارخانې مالکه هغه زړهٔ سواندې مهربانه ښځه څه وایي ؟ نه دا به زهٔ تصور کوم خو داځهٔ وایي :

- پهٔ پنځم تاریخ یې د زوی وادهٔ دی . زهٔ دا وادهٔ مادهٔ نهٔ منم . ځنګه چې یې زما زوی مړ کړ او زهٔ یې ټول عمر غمونو ته پریښودم،دغسې باید د دوی هم هره خوښي پهٔ غم بدله شي . زما پهٔ زوی یې جادو وکړ ، دا کوډ ګره به اوس پهٔ ځان پوه شي چې دې لهٔ چا سره سیالي او دښمني کوله او دغه خواره کونډه چې نهٔ ورور لري نهٔ بل زوی،پهٔ یوازې سر څهٔ کولی شي ؟

زهٔ دې نور وخت نه نیسم خو واوره چې تر درو ورځو پورې باید غفور پهٔ بم الوتی ووینم .

- غفور ؟

- هو غفور زما ترور زما عزیز .

- مګر هغه خو لهٔ تاسو سره ډیر ښهٔ دی .

- زما لهٔ هغهٔ سره دښمني نشته ، خو زهٔ یې د ښځې دښمنه یم او چې دی مړ شي نو دابه پهٔ ځان پوه شي چې غم څه شی وي ؟ ښه تهٔ لاړ شه بایدچې څوك خبر نهٔ شي او سبا به ما ته پهٔ دفتر کښې حال راکوې .

اګست - ۲۸ - ۱۹۹۲

# زړهٔ نازړهٔ

عجب پهٔ زینو ورو ورو پاس وخوت او زړهٔ نازړهٔ پهٔ یوې خونې ور-
ننوت . سلام یې واچاوهٔ او پهٔ کوټه کښې ناستو کسانو ته یې غلې
غلې سترګې ور واړولې او وېې څارل . هغوی ټول پهٔ کار لګیا وو او
پرته لهٔ یوهٔ سړي چې د سلام ځواب یې ورکړی و نورو حتی پاس هم
ورته ونهٔ کتل . عجب غلی ولاړ و او نهٔ پوهیده چې لهٔ چا پوښتنه وکړي
او څهٔ ډول ورته ووایي ؟ دی لا هم هغسې غلی و چې د سلام ځواب
ورکوونکي پهٔ داسې حال کښې چې پهٔ خپلو کارونو لګیا و او لاندې یې
کتل لهٔ دهٔ پوښتنه وکړه :

– څوك غواړې ؟ ایډیټر صاحب ؟

عجب لاړې تیرې کړې . یو ځل بیا یې ناستو کسانو ته وکتل .
بیایې پوښتونکي ته سترګې ور واړولې . لږ ورته ځیر شو او ورو
غونډې یې ځواب ورکړ :

- هو !

هغه پاس وکتل ورته څیر شو او بیایې وویل:

- هغوی به په یوولس بجو راځي .

په عجب نري غوندې خوله را ماته شوه . سر یې ورو ورو وښواراوه. لاړې یې تیرې کړې . لږ یې خپله زنه وګروله او بیا له کوټې ووت او نیغ په هغو زینو کوز شو چې دغه دم پرې را ختلی و.عجب لږ ساعت لاندې په وره کښې ودرید او په چورت کښې شو چې څه وکړي ؟ یو دوه ګامه یې په مخ واخیستل خو بیرته را ستون شو . زړه یې وغوښتل چې بیا دفتر ته ور وخیژي او له هم هغه سړي سره خبره وکړي چې د ایډیټر صاحب یې ورته ویلي وو ، خو چې څنګه یو دوه پاټکي پورته وخوت بیرته پښیمانه شو ، را کوز شو او د دفتر لاندې د لوی سړک په غاړه غاړه ورو ورو روان شو ، خو نه پوهیده چې په کومه لاړ شي ؟ بې مطلبه یې ګامونه اخیستل او په چورت کښې و چې د دفتر مشر ته به خبره څنګه ور یادوي . له ځان سره یې ورو ورو جملې جوړې کړې خو په خپله یې خوښې نه شوې او زړه یې ور په تنګ کړ ، څکه یې خبره هغه ساعت هغه مصلحت ته پریښوده او هم هغسې پر مخ لاړ ، خو یو دم بیرته راستون شو . چټک چټک ګامونه یې ور- واخیستل ، حتی چې تر دفتره هم تیر شو خو بیا ودرید . له یوه لاروي یې د وخت پوښتنه وکړه ، خو د هغه ځواب دی نور هم خُلق تنګی کړ. هغه نه بجې ور یادې کړې وې او په دې حساب دې باید پوره دوه ساعته وروسته دفتر ته ورغلی وای.

عجب بیا په زړې لارې را روان شو . دی ورو ورو روان و . دا ځل

هم لکه د تیو وار غونډې بې مطلبه روان و او حق او ناحق یې یو خوا بل خوا کتل ، اما اوس یې د دفتر په باب چورت نهٔ واهه ، بلکه د کور پهٔ باب چورتونو وړی و . وره خور او کشری ورور یې سترګو ته ودریدل او د مور هغه دعا وریهٔ زړهٔ شوه چې همدا نن سهار یې د رخصتولو پهٔ وخت ورته کړې وه او بیا د سید رؤوف پرونۍ خبرې ور په یاد شوې چې د کار پهٔ هکله یې ورته کړې وې . هغه هم دا دفتر ورته ښودلی و او ورته ویلي یې وو چې دلته دا خلك یوه پیاده ته اړ دي . همدې خبرې عجب تازه کړ او داسې یې وانګیرله لکه چې هر څهٔ وشول او خلکو کار هم ور وسپارهٔ . همدغو انګیرنو د عجب زړهٔ ته ډاډ ورکړ . هغه ویره چې تر اوسه یې پهٔ زړهٔ کښې وه هغه یې ترې هیره کړه او عجب پهٔ نوي هوډ او تازه وینې یو ځل بیا د دفتر پهٔ لور روان شو . دا ځل ده ډېر چټك ګامونه اخیستل او پهٔ زړهٔ کښې یې پتیيلې وه چې بس هم هغه سړي ته وینا پهٔ کار ده چې ایډیټر صاحب یې یاداوه .

عجب ډېر تیز روان و . نور ده ته تر یوولسو بجو صبر بیځایه ښکاریده او پهٔ اول ځل چې یې کومه بې جرأتي کړې وه پهٔ هغې پښیمانه و . د دفتر دروازې ته راورسید . تر پخوا یې ډېر ګړندي ګامونه مخ پهٔ پورته واخیستل ، خو د زینو تر نیمایي ور پورته یو دم ودرید. زړهٔ یې ودربیدهٔ او وارخطا غونډې شو . غوږ یې ونیو . شور یې تر غوږ شو او پهٔ زوږه زوږه خندا یې واوریده . د عجب زړهٔ ته څهٔ ور وګرځیدل . تر لاسه کړی هوډ او جرأت یې بیا لهٔ لاسه ورکړ . مخ یې سور سره واوښت . ژر ژر بیرته را کوز شو . د دفتر لاندې ودرید او پهٔ چورت کښې شو . د مکتب ورځې شپې ، وطن ، خپله څمکه ، کور

او جایداد ور پهٔ زړهٔ شو او پهٔ غمو سترګو کښې یې اوښکه وځلیده ، خو پهٔ یوه سارهٔ اسویلي سره بیرته ځان ته متوجه شو . د سړک پورې غاړې ته یې ونه صحیح کړه . ویې غوښتل چې د هغې سیوري ته ودریږي خو تر دې لهٔ مخه دوو تنو پولیسو ودراوهء ، تلاشي یې ترې واخیسته او لهٔ ځانه سره یې پهٔ مخه کړ .

۱۹۸۸ /۸/ ۲۹

ګلدره - پیښور

# د سبا په تمه

چې څونګه مې د کباړي بازار په کوڅه پښه کېښوده نو لالا داود مې سهي کړ او ګامونه مې ورپسې ګړندي کړل . لالا داود د خپل پلن تتر او جګي ونې په برکت له لرې ښکارېده ، نن يې هم خپله توره زړه « قره کول » خولۍ په سر کړې او امسا ، يې په لاس کښې وه ، چې نږدې ورغلم لو غږ مې پرې وکړ نو لالا ودرېد او زما په لور يې مخ را واړاوه . د لالا په ځېډلېو بخورو ږيره را رسيدلې وه او داسې ښکارېده چې له تېرو څو ورځو يې چاړه نه ده ور نږدې کړې . که څه هم تر يو دوو هفتو مخته به لا ده هره ورځ ږيره خرېله او چې زما به هم ږيره را رسيدلې وه نو کله کله به يې ويل چې لتې سنه نه وي . خو دا چې اوس دې خپله ولې لټ شوی و نو ما د دې پوښتنه څکه نه کوله چې

له حقیقته خبروم . لالا اوس ډېر کمزوري شوی و او مسلسلو ناروغیو دومره حوصله نه وه ورته پرایښې چې حتی ډېره هم هوه ورځ وخوږي .
په دې وروستیو ورځو کښې لالا د کباړي بازار د کتابونو لیدنې ته هم لږ راتهٔ خو گتابونه یې اوس هم لکه د پخوا ډېر اخیستل او تل به یې ویل چې په دنیا کښې تر ټولو بې ضرره ، سبکلې ، سه او پټ خولی دوست کتاب دی . کتاب واخلئ په کور کښې یې خوندي کړئ اخر به لا په ښه راشي .
زه هم د لالا د دې خبرو سره موافق وم او ما به هم په هر ځای کښې کتاب پسې غوښت . لالا اوس هم لکه د نور کله په شان خپلي پلنې ، توري ، پیړي شونډې سره خلاصي کړې ، وموسید او ښې لاس یې زما په اوږو کیښود او چې ځرنگه سره روان شو نو ده راته وویل :
– څه حال دی ؟ کتابونه راغلي که نه ؟
– بس خیریت دی . کتابونه هم گذاره کوی . ښه دي ، بد نه دي ، یوڅه به وشي .
لالا نوري خبرې ونه کړې او ورو ورو ، را سره په مخ ولاړ . مونږ د خیرو کباړي والا تر دوکانه سره غلي وو خو چې څرنگه هلته ورسیدو نو خیرو کباړي والا را پورته شو ، ستړې مشي یې را سره وکړه او لالا ته یې په گیله منه لهجه وویل :
– یره لالا ، چې ښه کتابونه وي نو ستا درک نه وي او چې نه وي نو دا دی راشي .
لالا وموسید او ویې ویل :
– ولي ما نه دې درته ویلي چې زما تر راتگه به لا نوي کتابونه چاته نه ښیې ؟

خیرو کباړي والا په تائید سر وښوراوه، او بیا لړ را مخته شو لالا یې تر مټ ونیو ، او د خپل دوکان په دوو ورو زینو یې وخیژاوه، زه هم ورپسې شوم او بیا لکه د نور کله په شان د خیرو کباړي والا د زاړهٔ دوکان بې نورې پس خانې ته ورغلو. خیرو سم دستي د برېښنا سویچ ولګاوه، او د دغې رڼا په برکت مو ولیدل چې د خیرو کباړي والا پس خانه نن بیا له کتابونو ډکه ده .

خیرو کباړي والا خیرنه خولۍ له سره لږ پورته کړه او چې څرنګه یې سر لږ وګراوه، نو سمدستي یې خولۍ بیرته کیښوده ، تنګې سترګې یې سره ورغلې ، مسک شو او ویې ویل :

– دا دی چې بیا ونه وایاست .

لالا داود د خپل تور کوټ له یوه جیبه عینکې را ویستلې او چې کتابونه یې ولیدل نو ویې ویل :

– دا بیا کوم بدبخته کتابونه اور اوبه کړل ؟

خیرو کباړي والا ځواب ورنه کړ ځکه چې لالا داود به تل همدا سوال کاوه، چې خلک ولې کتابونه داسې ورکوي ؟ خیرو خپله دوکان ته ورغی او لږ وروسته یې په خاورینو پیالو کښې دوه پیالې چای راوړې – بیا یې لږ ژبه وژوله او له یوې مصنوعي خندا سره یې دا خبر راکړ چې بیا کوم لوی کتابتون په ګوتو ورغلی او قیمت یې هم مناسب دی . له دې خبر سره سم خیرو کباړي والا بیا لاړ او مونږ یې نور پریښودو چې د خپلې خوښې کتابونه خوښ کړو .

لالا داود به یو یو کتاب را بیلاوه، خو پاملنې به یې کتلې او بیا به یې یو اړخ ته د ځان له پاره ایښود چې یو شمیر کتابونه یې بیل کړل نو خپلې زړې عینکې یې له سترګو را سنکته کړې ، سترګې یې لږ

وموښلې او دخیرو کباړي والا د چاېو پیالې ته یې لاس ور اوږد کړ او چې څونګه یې یو غوړپ چای تر ستوني تېر کړ نو راته ویې ویل :

دا مهمه نه ده چې کتاب د څه موضوع دی . کتاب اخر کتاب دی . د کتاب اخیستل په کار دي . خو داخلك زه نه پوهیږم څنګه خلك دي ؟ دوی د کتاب په اهمیت نه پوهیږي ، دا دی زه یم ډېر کتابونه لرم ، صحیح ده ما ډېر نه دي لوستی خو یوه نه یوه ورځ به یې لا و لولو .

موږ نور څه ونه ویل او له خپلو کتابونو سره د باندې را ووتو . خیرو ته مو د هغو کتابونو بیه ورکړه چې موږ هلته خوښ کړی وو . په سبا او بله ورځ مو هم د خیرو کباړي والا کتابونه سره وتوشپل او چې په پس خانه کښې نور زموږ د خوښې څه پاتې نه شو نو زه د څه مودې له پاره د کباړي بازار په خوا ورنه غلم . او چې کله نن بیا وروسته له یوې نیمې میاشتې د کباړي بازار او خیرو کباړي والا دوکان ته ورغلم نو خیرو کباړی والا غیر را باندې وګرځوله اوپټغیره کښې یې ټینګ کړم . هغه تر پخوا ډېر صمیمي وابسید . ډېری پوښتنې یې کولې او د ډېرو ورځو د نه راتګ وجه یې پوښتله . که څه هم د خیرو کباړي دې پیش امد حیرانه کړم خو د کتابونو د لیدلو سودا دې ته پرېښنبودم چې د خیرو د دې وضعې له علته خبر شم . هغه هم کله چې زما په نیت او غوښتنه پوی شو ، سملستي یې د پس خانې ورخلاص کړ او په داسې حال کښې چې بریښنا یې لګوله ، ده راته وویل :

– یره بابو صیب ! تردې ښه او ډېر کتابونه نور نشته . واخله چې نن خو تا په کتابونو موړ کړم . او ګوره اې ! بیه یې هم ښه ده . غم مه کوه هرڅه به وشي .

خیرو کباړي والا لږه شیبه غلې ودرید شاید زما له لوري به یې کومه

پوښتنه انګیرله خو چې ما څه ونه ویل نو له پس خانې ووت . ما کتابونه را وتوښپل په رښتیا هم نن ډېر زیات کتابونه ګوټو ته ورغلي وو . او د دې کتابونو کمال هم بیا دا و چې هر ډول یې ډېر ښه ساتل شوي وو . او بیا زما د خوښې او د ذوق مطابق هم یو ګڼ شمیر کتابونه پکښې پراته وو . په همدې وجه زه څو ورځې مسلسل ورغلم او چې کله روپۍ راکمې شوې نو لالا داود را په زړه شو ، زړه‌ء مې راته وویل چې هغه مي لیدلای وای او دغه نور کتابونه مې هغه ته ورسپارلي وای ځکه چې دا ډول مرتب کتابونه د هغه ډېر خوښ وو . هغه خو به چې هر ډول کتاب ولید نو تر هرڅه له مخه یې د کتاب د صحافت غم کاوه‌ء چې د کتاب پوښ به پرې و یا به نه و نو ده به سمدستي یوه‌ء صحاف ته ور وسپاره‌ء او د څو روپیو په لګښت به یې یو ښه پوښ ورته جوړ کړ . دلته د ښه صحافت نه پرته د کتابونو موضوعات هم د ده په طبعه برابر وو .

له تیرو څو ورځو ما لیدل چې لالا اوس دلته نه راته‌ء . ما یې کور نه و لیدلای . اصلاً ما لالا همدلته د خیرو کباړي والا په دوکان کښې لیدلی او پیژندلي و . ما او لالا به یواځې د کتابونو په هکله خبرې کولې نور نو له یو او بله خبر نه و چې چیرته اوسو او څه کوو . او اوس چې د لالا په لټه کښې وم نو ارمانجن شوم چې ولې مې په دې دومره موده کښې حتیٰ د کور پوښتنه هم ترې نه وه کړې . لړه شیبه مې له ځان سره چورت وواهه چې چرته به یې پیدا کړم خو پرته له دې چې له خیرو کباړي والا نه د هغه پوښتنه وکړم نور کوم اقدام راته بې ځایه وبریښید .

په دې نیت چې د لالا پوښتنه له خیرو څخه وکړم زه له پس خانې را ووتم او د خیرو کباړي والا دوکان ته را ننوتم . خیرو دغه دم له چاپه

تول کتابونه اخیستل زه ورته ودریدم چې څونګه دی فارغ شو نو ما د لالا پوښتنه ترې وکړه . هغه لکه د پخواء غوندې خپله خیرنه خولۍ لږ پورته کړه سر یې وګراوۀ ویې خندل او ویې ویل :

- همدا کتابونه د لالا و . خدای دې وبخښي ، دا دی نږدې میاشت نیمه یې وشوه چې په حق رسیدلی .

- څه ؟ څه - په حق رسیدلی ؟

- هو - ډېر سنه سړی و . باچا سړی و . او ته یې زامنو ته ګوره د پلار څلویښتې یې لا نه ده پوره چې دوی یې کتابونه بیا خرڅ کړل . خو ډېره بابو که سنه کوې دا کتابونه ته واخله چې د لالا روح خوشحاله شي بس ته یې هم جګرې یار وې .

خیرو کباړي والا نور څه ونه ویل . د دوکان په چوتره پراته کتابونه یې وارول را وارول او زه غلی پاتې شوم .

جون ۹۰

PROPERTY OF ACKU 3976

Download from: aghalibrary.com

# The Fourth Way

## A Collection of Short Stories

By:

Emal Pasarlay

Publisher:

Nahid Book Publishers

Series No: 3

Download from: aghalibrary.com